# کار و اجتماع

۱۴۰۳ کال، اته ویشتمه گڼه
د کار او ټولنیزو چارو وزارت ربعواره مجله



بسم‌الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمین و عاقبة للمتقین و الصلاة و السلام علی خیر خلقه محمد و علی آله و اصحابه اجمین؛

**فصل‌نامهٔ کار و اجتماع**

**۱۴۰۳ کال، اته ویشتمه ګڼه**

**د امتیاز خاوند:** د کار او ټولنیزو چارو وزارت

**د مطبوعاتو ریاست**

**مسؤل مدیر**

سمیع الله ابراهیمي

**ډیزاین**

ماهر آریا

**کتنپلاوی**

ابوبکر آرین

نیازمحمد احساس

محمد محفوظ تائب

احمدزی هیواددوست

محمد طارق ابراهیم خېل

مطیع الله صاحبزاده

**بریښنالیک**

publication@molsa.gov.af

**وېب‌سایټ**

WWW.MOLSA.GOV.AF

**پته**

د کار او ټولنیزو چارو وزارت

لومړی مکروریانو مارکېټ ته مخامخ

کابل- افغانستان


## لــــــــــړ لیک / فهـــــــــــرست


سرمقاله........................................................................ ۱

کانال های ارتباطی وزارت کار و امور اجتماعی ........................................۲

له ملي راډیو سره د کار چارو معین مرکه..........................................۳

دسترسی به اطلاعات؛ حق مسلم همه..........................................۷

په ټولنه کې د کسب او کار ارزښت ..........................................۹

فلسفهٔ اقتصادی و اجتماعی زکات ..........................................۱۰

په ژوند کې نهه اړینې موخې..........................................۱۳

عمده ترین دست آوردهای ریاست محافظت اطفال ..........................................۱۵

سوداګریزه تګلاره، د افغانستان اقتصادي پرمختګ او فرصتونه..........................................۱۷

پانګه اچونه او د هغې ارزښت..........................................۱۸

خــبرپاڼــه ..........................................۱۹

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر د کابل ولایت د مختلفو اقشارو له استازو سره وکتل..........۲۲

د لغمان شاهي کانال په جوړولو او ګټه اخیستنه کې د کاري فرصتونو او ټولنیزې – اقتصادي پراختیا تحلیل. ۲۳

ګفتگو با محترم عزت الله عارف رییس عمومی قوای بشری..........................................۲۷

له روژې میاشتې څنګه ګټه واخلو؟..........................................۲۹

د ماشوم د شخصیت په وده کې د کورنۍ رول..........................................۳۱

زیبایی و پاکی شهرما، نشانه هویت ما است..........................................۳۳



مسئولیت مضامین و مطالب چاپ شده در مجله، به نویسندهٔ آن بر می‌گردد؛
استفاده از مطالب و تصاویر فصل‌نامه با ذکر منبع و مأخذ مجاز است.



## سرلیکنه

په نننۍ نړۍ کې کار د انساني ژوند د اصلي بنسټونو څخه دی، چې نه یوازې د معیشت د تأمین، بلکې د ټولنیز هویت او ودې په برخه کې هم ډېر ارزښت لري. له پخوانیو زمانو څخه انسان د خپل ژوند د پاینښت او سوکالۍ لپاره په کار لاس پورې کړی، خو اوس کار په یوې پېچلې او څو اړخیزې مقولې اوښتی دی.
په پرمختللې نړۍ کې کار یوازې د عاید د ترلاسه کولو په مانا نه دی، بلکې یو اړین بنسټ دی، چې ټولنه سره نښلوي او ټولنیزې اړیکې رامنځته کوي. کار د ټولنیز ژوند یوه نه جلا کېدونکې برخه ده، چې د انسانانو په فردي او ټولنیز هویت کې ستره ونډه لري.
کار د یو کس لپاره یوازې د ژوند د دوام په مانا نه، بلکې د مهارتونو د ودې، د انساني اړیکو د رامنځته کولو او د ځان پېژندنې د پرمختګ په توګه هم پېژندل کېږي.
په یوه ټولنه کې، په کار د بوختو کسانو شمېر، شغلي فرصتونو ته د لاسرسي کچه او د کارموندنې ډول کولای شي، چې د هغې ټولنې د پرمختګ او پراختیا معیار واوسي. په همدې دلیل د کار موضوع په ټولنیز اړخ کې هم ارزښت لري. د کارموندنې او د غوره کاري شرایطو برابرول کولی شي چې د ژوند د کیفیت د ښه کولو، د ټولنیزو نابرابریو او د بېوزلۍ د کمولو لامل شي.
د کار په اړه ټولنیز عدالت یو له مهمو مسایلو څخه دی.
په ډېری ټولنو کې افراد د مختلفو اقتصادي او ټولنیزو موقعیتونو سره کاري فرصتونو ته لاسرسی لري. دا توپیرونه ممکن د نژادي یا ټولنیزو طبقاتي مسایلو له امله وي. په همدې بنسټ ځینې وختونه شغلونو ته لاسرسي یوازې د فرد تر وړتیا پورې محدود نه وي، بلکې د هغه له کنټرول نه په نورو عواملو پورې هم تړاو لري.

ریاست مطبوعات

# کانال های ارتباطی وزارت کار و امور اجتماعی

بخش رسانه‌ای وزارت کار و امور اجتماعی، مسوؤل به تصویر کشیدن فعالیت‌ها و کارکردهای این وزارت می‌باشد. این بخش وظیفه دارد که به گونۀ مستقیم از طریق صفحات اجتماعی چون فیسبوک، اکس، ویب‌سایت و مجله و هم‌چنان از مجرای کانال‌های تلویزیون ملی و بین‌المللی با ارایۀ اطلاعات مؤثق و مرتبط به کار و اجتماع را به طور گسترده‌ای به فعالیت‌ها و دست‌آوردهای این اداره بپردازد. دفتر مطبوعاتی این اداره مؤظف است به آژانس‌های خبری، روزنامه نگاران و سایر اتباع که به اطلاعات احتیاج دارند، اطلاعات فراهم نمایند. ابزاری که برای به اشتراک گذاشتن چنین اطلاعاتی استفاده می‌شوند شامل بیانیه‌های مطبوعاتی، اعلامیه، کنفرانس‌های مطبوعاتی، ارتباط و شریک ساختن معلومات با رسانه‌های خارجی و هم‌چنان به اشتراک گذاری آن در صفحات رسمی رسانه‌های اجتماعی وزارت کار و امور اجتماعی می‌باشند.

## صفحه‌های رسمی رسانه‌های اجتماعی

صفحات رسمی رسانه‌های اجتماعی، وزارت کار و امور اجتماعی شامل یک صفحۀ تأیید شدۀ فیسبوک، یک صفحۀ رسمی اکس و یک کانال یوتیوب است. این حساب‌های شبکه‌های اجتماعی به عنوان ابزار اصلی برای انتقال اطلاعات مورد نیاز عمل می‌کنند.




### صفحۀ فسیبوک:

بخش رسانه‌های وزارت کار و امور اجتماعی، یک صفحۀ رسمی تأیید شدۀ فیسبوک دارد که با ۲۱۵ هزار دنبال کننده، یگانه و محبوب‌ترین منبع برای شریک ساختن اطلاعات و معلومات می‌باشد.

molsa_gov_af




### صفحۀ اکس:

حساب رسمی اکس وزارت کار و امور اجتماعی یکی دیگـــــــر از منابع حیاتی اطلاعات این اداره پنداشته می‌شود که اطلاعات مربود به اداره و اخبار را به زبان‌های ملی و انگلیسی به نشـــــــر می‌رساند.

در حال حاضر حساب اکس وزارت کار و امور اجتماعی بیـش‌تر از ۴۰۰۰۰ دنـبال کننده دارد که این روند رو به افزایش است.

molsa_gov_af




### مجلۀ کار و اجتماع:

این مجله به گونۀ فصل نامه چاپ می‌شود. مجلـۀ کار و اجتماعی در ترویج فـــرهنگ کتاب‌خوانی نیز نقش پر رنگ دارد. حقیقتاً این مجله راوی تمام فعالیت‌ها، دست‌آوردها است که با جزییات به گونۀ مستند منبع دقیق اطلاعات مربوط به این اداره پنداشته می‌شود.

publication@molsa.gov.af



### ویب‌سایت:

ویب‌سایت؛ بانک اطلاعاتی این وزارت شمرده می‌شود که به گونۀ حـــــرفه‌ای طراحی شده و اطلاعات شامل: اخبار گـــزارش‌ها، روایت‌ها، روی‌دادهـــــا، مصاحبه‌ها و مستندهـــا نیز که به زبان‌های ملی و بین‌المللی به دست نشر سپرده می‌شود.

www.molsa.gov.af




په هېواد کې ډېری ځوانان د بېکارۍ څخه سر ټکوي او اندېښمن دي، چې اسلامي امارت دې ورته ژر تر ژر کاري فرصتونه رامنځته کړي .

په همدې حال کې داسلامي امارت چارواکي لاس تر زنې نه دي ناست او ټینګار کوي چې په خپل ټول توان سره به نویو ځوانانو ته کاري فرصتونه رامنځته کوي .

د کار او ټولینزو چارو وزات د همدغې مسؤلیت په درک کولو سره څه وخت وړاندې د کار ملي کانفرانس جوړ کړو چې موخه یې د بېکارۍ د کچې معلومول او ځوانانو ته د کاري فرصتونو رامنځته کول وو

بل لور ته د کار نړیوال سازمان هم وايي چې یاد سازمان هڅه کوي ، تر څو افغان ځوانانو ته مناسب کاري فرصتونه برابر کړي.

د افغانستان ملي راډیو درنو اورېدونکو سترې مه شئ، وخت مو پخیر!

زه رفیع الله ریحان یم او تاسو همدا شیبه دبحث او شننې خپرونه اورئ!

په ننۍ خپرونه کې راسره د کار اوټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین مولوي زاهد جان احمدزي را سره میلمه دی او د هغې سره به د یاد وزات په لاسته راوړنو ، ځوانانو ته د کاري فرصتونو رامنځته کولو په تړاو بحث وکړو تاسو هم زموږ ملتیا وکړئ!

احمدزي صیب کور مو ودان چې د مرکې لپاره مو وخت راکړو !

**۱-** که په پیل کې وپوښتم چې د کار اوټولنیزو چارو وزارت څه وخت وړاندې راپور ورکړې وه چې په په تېرو اتو میاشتو کې یې څه باندې ۸۰ زره کسانو ته د کار جوازونه وېشلي چې درې زره په کې بهرني وګړي دي ، یاده چاره ستاسې لاسته راوړنه ګڼل کېږي اما پوښتنه دا ده چې ستاسې د شمېرو له مخې اوس مهال څومره وګړي د بیکارۍ سره مخ دي او د کاري فرصتونو برابرولو لپاره یې کومې هڅې روانې دي؟

**ځواب:** په لومړي سر کې ستاسو ټولو همکارانو او د راډیو ټولو قدرمنو اورېدونکو او هېوادوالو ته د زړه له کومې سلامونه او نېکې هیلې وړاندې کوم، په رښتیا هم چې بېکاري د ټولو بشري ټولنو جدي ننګونه او ستونزه بلل کېږي. چې په پرمختللو هېوادونو کې هم تر سترګو کیږي.

بیکاري زموږ په هېواد کې سابقه لرونکې ستونزه ده، داسې ستونزه چې د افغانستان اسلامي امارت ته په میراث پاتې ده، د افغانستان اسلامي امارت په ټوله کې او په ځانګړې توګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت تل هڅه کوي چې په هېواد کې د بېکارۍ کچې د راټیټولو په موخه پوره هلې ځلې وکړي. په تېرو ۸ میاشتو کې له ۸۰ زرو د زیاتو کاري جوازونو وېش یې یوه ښه بیلګه ده او دا په دې معنا ده چې دا شمېر وګړي په امارتي ادارو، خصوصي سکتور او مؤسسو کې پر دندو ګمارل شوي او دا پایله اخیستلای شو چې د افغانستان اسلامي امارت لاس تر زنې نه ده ناست او په خپل پوره توان سره هڅه کوي چې غوره بېلګه یې همدا ده.

**۲-** د بېکارۍ د ستونزې حل په موخه د کار او ټولنیزو چارو وزارت کوم مشخص ګامونه په دې برخه کې اخیستي دي؟

ځواب: د کار او ټولنیزو چارو وزارت په پوره درایت سره د بېکارۍ مزمنه ستونزه درک کړې ده او د یادې ستونزې او ننګونې د حل لپاره اقدامات کوي، د دې لپاره چې په هېواد کې د بېکاۍ کچه راټیټه شي، د کار او ټولنیزو چارو وزارت سږ کال امارتي ادارو، خصوصي سکتورونو، ملي او نړیوالو بنسټونو سره په ګډه همکارۍ او همغږۍ د کار ملي کانفرانس ترتیب کړ چې په پایله کې یوازې له امارتي ادارو یې لږ تر لږه ۱.۵

میلیونه کسانو لپاره په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کاري فرصتونو د ایجاد ژمنې واخیستل شوې.

سربېره پر دې د کار او ټولنیزو چارو وزارت هغو ځوانانو ته چې له زده‌کړو محروم پاتې وي او یا هم نالوستي او بېکاره دي، د فني او حرفوي زده‌کړو زمینه برابره کړې ده، ترڅو هغوی ته فني زده‌کړې ورکړې، په اړونده حرفه کې د امکان تر حده کاري وسائل وویشي او په پای کې یې د ماهر کاریگر په توگه د کار بازار ته وړاندې کړي.

نه یوازې دا بلکې د کار او ټولنیزو چارو وزارت په نشه‌یي توکو روږدو کسانو ته له درملنې وروسته د فني او حرفوی زده‌کړور زمینه برابره کړې ده، تر څو له دې لارې هغوی هم د کار او حلالې نفقې خاوندان شي او هم هغوی مصروفیت پیدا کړي چې بیا دې شومې پدیدې ته ور ونه گرځي، ځکه د نشه‌یي توکو استعمال ټولنیزې ستونزې زېږوي.

**۳-** تاسې د کار ملي کنفرانس هم ترسره کړو چې په هیواد کې دغه کنفرانس په دومره لوړه کچه تراوسه پورې نه وه ترسره شوی یاد کنفرانس د کاري زمینې په برابرولو کې څومره مهم تمام شو؟ کومې مثبتې پایلې یې درلودې؟

**ځواب:** په واقعیت سره چې د کار ملي کانفرانس یوه غوره لاسته راوړنه او په عین حال کې یوه غوره تجربه وه، چې د کار بازار سوکه حرکت ته یې چټکتیا ور وبخښله، د کار ملي کانفرانس ژمنې موږ په غور سره تعقیبوو، د کار جوازونو وېش په شمېر کې زیاتوالی یې یوه غوره بېلگه ده. باور لرو چې په راتلونکي کال کې به د کار جوازونو په وېش کې د پام وړ زیاتوالی ووینو.

**۴-** ستاسې د رسمي شمېرو له مخې چې د کار بازار هم تر څېړنې لاندې نیسئ او د هېوادوالو د ژوند د ښه والي او کار موندنې لپاره هڅې کوي، زموږ هېواد کې د بېکارۍ کچه لوړه ده ، په هېواد کې د بیکارۍ اصلي علتونه څه کېدای شي؟

**ځواب:** اوسمهال چې موږ د هېواد په اوو زونونو کې د کاربازار مطالعه او سروې ترسره کړې ده، څرگنده شوې ده چې په هېواد کې اوږدې جنگ جگړې، غوره او معیاري تحصیلاتو ته د هېوادوالو نه لاسرسی، په هېواد کې د غوره او معیاري کار نه ترویج، د بېسوادۍ او کم سیوادۍ او په اوس وخت کې د اقتصادي زېرمو کنگل هغه لویې ستونزې دي چې په هېواد کې د بېکارۍ کچې ته پراختیا ورکړې ده.

**۵ -** د ځوانانو لپاره د کار موندنې په برخه کې په گڼ شمېر ولایتونو کې تاسې روزنیز پروگرامونه پلي کوئ چې یو یې هم فرلانسینگ دی، د دغه پروگرام له امله څومره کسانو ته کارې فرصتونه رامنځته شوي دي؟

**ځواب:** د کار او ټولنیزو چارو وزارت هغو ځوانانو ته د کار بازار د اړتیاوو سره سم د فني او حرفوي زده‌کړو زمینه برابروي چې له لوړو او ثانوي زده‌کړو څخه پاتې وي او یا یې هم د کوم کار او کسب له زده‌کړو څخه بې‌برخې پاتې او یا یې هم په اوس وخت کې نشه‌یي توکو سره یې مخه ښه کړې وي.

فني او حرفوي زده‌کړې د هر زون اړتیاوو ته په کتو سره ځوانانو ته ورکول کېږي، دا زده‌کړې زیاتره د خیاطۍ، نجارۍ، گلدوزۍ، موټر سایکل جوړونې، زرگرۍ، د جنراټور ترمیم، تعمیراتو برق، کمپیوټر، موبایل‌ترمیم، بیک‌گنډلو او بوټ‌گنډلو په برخو کې دي، تر څو له دې لارې له یوې خوا په هېواد کې د بېکارۍ کچه راټیټه شي او له بلې خوا ټولنیزې ستونزې هم ورسره تر یوه بریده حل شي.

په آنلاین کاروبار باندې د افغانستان اسلامي امارت له لوري محدودیتونه شته، ځکه په دې ډگر کې موږ او نورو ادارو ته ډېر شکایتونه راغلل، د اقتصاد او مخابراتو وزارت په گډه هڅه کېږي چې یادې ستونزې ته یوه معقوله د حل لاره پیدا کړو.

**٦-** په هر هېواد کې د بېکارۍ کچې د کمولو لپاره خصوصي سکتور پام جلبول اړین دي ستاسو وزارت کومې تگلارې عملي کړې دي؛ تر څو د خصوصي سکټور پام را جلب کړي؟

**ځواب:** له نېکمرغه افغانستان اوسمهال د سیاسي او امنیتي ثبات سربېره، اقتصادي ثبات هم لري، تجارتي بندرونه او لویې لارې د هر ډول تگ راتگ لپاره خلاصې دي، د لویو لارو په بیارغونه جدي کار روان دی، له گاونډیو هېوادونو سره نېکې دوه اړخیزې او څو اړخیزې اړیکې لرو، افغاني پولي واحد تر بل هر وخت با ثباته دی.

نو د دې لپاره چې دا ثبات په راتلونکي کې لړزانده نه شي او مقاومتي اقتصاد ولرو، د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د کورنیو او بهرنیو سوداگرو او متشبثینو پانگې راجلب کړي، د افغانستان پولي زېرمې له بندیزونو را وباسي، له داخلي تولیداتو څخه ملاتړ وکړي او د بازار ثبات ساتلو لپاره مستقیمه او غیرمستقیمه مداخله وکړي.

دا چې امارتي ادارو د کار په ملي کانفرانس کې ژمنه وکړه چې تر راتلونکو ۵ کلنو به تر یو نیم میلیون کاري فرصتونه رامنځته کړي، اوس دا دی د خصوصي سکتور دنده هم ده چې تر یو نیم میلیون زیات شغلونه هېوادوالو ته رامنځته کړي، ځکه په ټولو هېوادونو کې خصوصي سکتور هغه بنسټ دی چې زیات شمېر کاري ځواک ته د کار زمینه برابروي او اوس له نېکمرغه د دوی هر ډول فعالیت ته زمینه برابره ده.

**۷-** د هغو خلکو لپاره چې هېڅ کوم مهارت نه لري، کوم روزنیز پروگرامونه مو ورته په پام کې نیولي؟

**ځواب:** د کار او ټولنیزو چارو وزارت او همدا راز د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو اداري ډېر برنامې چې فني او حرفوي زده‌کړې دي، همدې ځوانانو لپاره دي چې مهارت نه لري، له تعلیم او تحصیل څخه محروم پاتې شوي.

د بېکاره او له زده‌کړو پاتې هېوادوال کولای شي، چې فني او حرفوي زده‌کړو په پروسه کې د گډون لپاره د هر تعلیمي کال د لومړۍ او دوه‌یمې نیمایي په پیل کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت اعلانات تعقیب کړي او له هغې لارې نوم‌لیکنه وکړي، په عمومي آزموینه کې له گډون وروسته دغه هېوادوال د علاقې وړ رشتې ته جذبېږي.

**۸ -** هغه کونډې ښځې چې د کور سرپرست یې نه وي د هغوی لپاره مو کوم کاري فرصتونه د اسلامي شریعت او افغاني ارزښتونو په چوکاټ کې برابر کړي، په دې برخه کې کوم ځانگړي پلانونه شته؟

**ځواب:** د زیانمنو اقشارو ستونزو ته رسېدنه هم د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مهمو او اساسي دندو څخه گڼل کېږي. موږ په ټول هېواد کې د زیانمنو ښځو او ماشومانو د لاسنیوي لپاره هلې ځلې کړي، د هېواد په اکثریت ولسوالیو کې مو د ماشوم‌ساتنې شبکې فعالې کړې. د ورک شویو

ماشومانو لپاره مو په ټول هېواد کې کمپاین پیل کړی دی. په همدې موخه مو د میلیونونو ډالرو په ارزښت له ملي او نړیوالو بنسټونو سره هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړي، کسب لرونکو د کور ښځینه سرپرستو لپاره مو په ځینو ځایونو کې کاري توکي وېشلي، د بې‌سرپرسته ماشومانو لپاره مو په ټولو ولایتونو کې روزنتونونه او د فني او حرفوي زده کړو مرکزونه پرانېستل شوي او سلګونه او زرګونه کورنۍ له انساني او بشري مرستو څخه برخمنې شوي.

**۹ -** د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت له‌خوا به هغه افغانان چې له نورو هېوادونو څخه راستنېږي، یو شمېر وزارتونه ته یې ورپېژندل، افغان کډوالو ته د کار موندنې په برخه کې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سره څومره همغږي لري؟

**ځواب:** داخلي بې‌ځایه شویو او بېرته راستنېدونکو کډوالو ستونزو ته رسېدنه او هغوی ته د خپل توان مطابق د کاري فرصتونو برابرول هم زموږ لومړیتوب دی. د یادو دوو کټګوریو هېوادوالو ستونزو ته د رسېدنې غږ د کار په ملي کانفرانس کې هم د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت په همکارۍ موږ پورته کړ، تر څو د دغو زیانمنو اقشارو ستونزو ته هم رسېدنه وشي، د سرپناه او کاروبار څښتنان شي.

په همدې موخه هم له نړیوالو بنسټونو سره هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي.

نه یوازې دا بلکې د کار او ټولنیزو چارو وزارت توانېدلی چې په تېر یو کال کې تر ٦٥٠٠٠ زیاتو راستنېدونکو هېوادوالو کاري مهارتونه، مسلک، تحصیلات او تجربې په تورخم او سپین‌بولدک بنارګوټو کې ثبت کړي او دا لړۍ روانه ده، د هغوی لپاره یو ډېټابیس جوړ شوی، تر څو د امکان په صورت کې د هر کار لپاره د هر مسلک وړ شخص د ضرورت وړ کارځای ته ور معرفي کړي.

سربېره پردې د تېر کال له لومړیو څخه تر اوسه پورې توانېدلی یو چې د همکارو مؤسسو په مرسته د ١٦٠٠٠ په شاوخوا کې ردمرزي ماشومان خپلو کورنیو سره بېرته یوځای کړو چې له ایران او پاکستان هېواد څخه ردمرز شوي وو، تر یوې میاشتې یې په خپلو مرکزونو کې خوندي وساتو او د کورنیو سره تر یوځای کېدو پورې حتی د لارې کرایه ورکړو او په ځینو ځایونو کې د ردمرزي ماشومانو لپاره کوچني کاروبارونه هم برابر شوي.

**۹-** څه وخت وړاندې تاسې په افغانستان کې د کار نړیوال سازمان له رئیس ډاکټر رامین بهزاد سره د خدای په امانۍ کتنه وکړه، یاد سازمان ځوانانو ته د کارې فرصتونو په برابرولو کې څومره مؤثر دی او همدارنګه ستاسې وزارت د کاري فرصتونو د برابرولو لپاره له نړیوالو مؤسسو سره څومره همکاري لري؟

**ځواب:** د کار نړیوال سازمان له استازولۍ سره د کار او ټولنیزو چارو وزارت منظمې او حسنه اړیکې لري، د کار او ټولنیزو چارو وزارت په هېواد کې د غوره کار د ترویج او کاري فرصتونو د پیداکولو په برخه کې د یاد سازمان فعالیتونه ستایي. یاد سازمان د کاریګرو او کارفرمایانو له خونو سره هم د کار او ټولنیزو چارو وزارت په شان دوستانه اړیکې پالي، خو موږ دا فعالیتونه کافي نه بولو او په دې برخه کې زیاتو هڅو او فعالیتونو ته سترګې په لاره یو، تمه لرو چې د نوي استازي په راتګ سره به په یادو ډګرونو کې همکاري پراخه شي.

**۱۰-** د کار د قوانینو تطبیق په اړه راته وواياست څومره پلي کېږي او هغه کسان یا خصوصي شرکتونه چې پر وخت کاریګرو ته خپل حقوق نه ورکوي، یا هم پرې ظلم کوي څومره رسېدنه مو ورته کړې؟

**ځواب:** د کار او ټولنیزو چارو وزارت ډېری پالیسي کاریګر محوره دي، د کار تفتیش ریاست مفتشین هره ورځ له فابریکو، کارخونو، شرکتونو او حتی د ښښتو له بټیو څخه لیدنه کوي، تر څو هلته د کاریګرو د حقونو پوښتنه وکړي، ستونزو او ننګونو ته یې رسېدنه وکړي، له نېکمرغه د کار او ټولنیزو چارو وزارت توانېدلی چې په تېرو ۸ میاشتو کې تر ۲۵۰ زیات کار ځایونه تفتیش کړي، د کاریګرو له اضافه کار، د هغوی ایمني، رخصتۍ او د نورو امتیازاتو پوښتنه وکړي.

سربېره پردې هغه شکایتونه چې موږ ته له بېلابېلو لارو په دغه ډګر کې شوي هم رسېدنه شوې ده.

**۱۱-** د کاري قوانینو د تطبیق او څارلو لپاره کوم ځانګړي میکانیزمونه فعال دي؟

**ځواب:** زموږ له دفتر څخه را شروع، د کار تقنین او حقوقو ریاست، د کار تفتیش او لاربښوونې ریاست او د کاري شرایطو او قواعدو د بهبود ریاست، ټول په ګډه توګه هڅې او کوښښونه کوو، تر څو وکولای شو د هېواد په کچه د کار مرتبط تقنیني اسناد په ښه توګه رعایت او پلي کړو چې هم کاریګرو ته سهولت برابر شي او هم کارفرمایان له ستونزو او مشکلاتو سره مخ نه شي. په ټوله کې دا پروسه ښه روانه ده او د لا پیاوړتیا په موخه هلې ځلې کوو.

**۱۲-** ستاسو په نظر د افغانستان په کار بازار کې اوسنۍ لویې ستونزې کومې دي او ستاسو وزارت د دې تحلیل لپاره کومې ځانګړې سروې یا څېړنې ترسره کړې دي؟

**ځواب:** زموږ د کار بازار د مطالعې ریاست، په دې برخه کې فعالیتونه لري، وخت نا وخته د هر زون او ولایت په سطحه سروې کوي او دا په ګوته کوي چې په کومه سیمه کې کوم کار یا حرفې ته اړتیا ده. د دې سروې‌ګانو پایلې به څېړل کېږي او د وروستیو اجراآتو په منظور به هم د وزارت او هم د نورو مسؤلینو سره شریک کېږي، تر څو په مشترک ډول داسې اقدامات وشي چې هم مو د کار بازار اړتیاوې پوره او هم مو له دې پلوه د خلکو ستونزو ته رسېدنه وشي.

**۱۳-** د کار موندنې لپاره د اوږدمهاله او لنډمهاله پالیسیو په جوړولو کې ستاسو وزارت کوم ځانګړي میکانیزمونه کاروي؟

د کار ملي کانفرانس چې عمده موخه یې په راتلونکو پنځو کلونو کې تر یو نیم میلیون کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول کارموندنه کړې او د دې موخو د تعقیب هلې ځلې کوو او دې پروسې ته به دوام ورکوو. په همدې ترتیب په دې هڅه کې یو چې پر خصوصي سکتور فشار راوړو ترڅو خپله کورنۍ دنده ترسره کړي، همدا راز له هېواده بهر د افغان ماهرو او نیمه ماهرو کاریګرو د اعزام قانوني پروسه تعقیب کړو چې په دې برخه کې ځینې مقدماتي هوکړې هم شوي دي.

**۱۴-** د ملي کاري ځواک د ظرفیت لوړولو لپاره ستاسو وزارت کومو تخنیکي او مسلکي زده کړو ته لومړیتوب ورکوي؟

**ځواب:** د کار او ټولنیزو چارو وزارت په چوکاټ کې مو انسټیټیوټ ایجاد کړی دی چې یوه دنده یې د امارتي او غیرامارتي ادارو د ظرفیتونو لوړول

دي او هم د قابلیتونو د تثبیت مسؤلیت ورسره دی چې کوم کاریگر په خپله رشته یا حرفه کې د کوم قابلیت درلودونکی دی. دا چارې ښې پرمخ روانې دي او پیاوړې کېدوته یې ژمن یو، تر څو مو ظرفیتونه په ښه ډول او د وخت اړتیاوو ته په کتو وروزل شي.

**۱۵ـ** د خصوصي او دولتي سکتور ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا لپاره ستاسو وزارت څه ډول پالیسی تطبیقوي؟

**ځواب:** په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت پالیسي دا ده چې د خپل خصوصي سکتور څخه قوي ملاتړ وکړي، ښه او مناسب سهولتونه ورته برابر کړي، د سیمې، گاونډ او آن د نړۍ له نورو هېوادونو سره ورته د سوداگرۍ زمینه برابره کړي. چې په دې برخه کې للهالحمد ښه روان یو او ورځ په ورځ د نوو او مثبتو لاسته راوړنو شاهدان یو.

خصوصي سکتور زموږ ډېر نږدې همکار او شریک دی چې ډېر شمېر کاري ځواک ته یې کاري فرصتونه برابر کړي دي او هم یې د هېواد په پرمختګ کې زیار ویستي دي چې مونږ ترې مننه کوو او په عین حال کې د نورې همکارۍ هیله هم لرو.

**۱۶ـ** د کار په برخه کې د نړیوالو معیارونو او کنوانسیونونو تطبیق په اړه نړیوالو سازمانونو او بنسټونو ته څه ډاډ ورکوئ؟

په لومړي کې مې دا پیغام دی چې نړیوال باید د افغانستان اسلامي امارت سره ښه او رغنده تعامل ته زړه ښه کړي. کوم ظالمانه بندیزونه چې موجود ستونزې یې جوړې کړې دي، لرې کړي او اجازه دې ورکړي، ترڅو د افغانستان خلک په خپلو پښو ودرېږي. همدا بېبنسټه بندیزونه د دې سبب دي چې د افغانستان په استازیتوب ونشو کولای د کار نړیوال سازمان په کلنیو غونډو کې گډون او هلته موجوده شرایط له نړیوالو سره شریک او د کار په برخه کې د هغوی مرستې را جلب کړو. موږ د هر هغه فرصت څخه چې پایله یې زموږ د خلکو هوساینه او د هېواد پرمختګ وي مثبته گټه اخلو او هرکلی ورته وایو.

**۱۷ـ** د عصري ټکنالوژۍ او نوو تخنیکونو په مرسته د کار بازار ښه کولو لپاره وزارت کوم نوي پروگرامونه طرحه کړي دي؟

**ځواب:** طبیعي خبره ده چې د عصري ټکنالوژۍ په پراختیا سره به ډېری مسلکونه او مهارتونه خپل ارزښت له لاسه ورکړي، د نوي ټکنالوژۍ په ترویج سره به ډېری بشري ځواک هم په نړۍ او په افغانستان کې خپلې دندې له لاسه ورکړي، د کار او ټولنیزو چارو وزارت دې ټکي ته متوجه دی او هڅه مو دا ده چې خپلې فني او حرفوي زده‌کړې او همدا راز لوړو زده‌کړو ته د نوي عصر د غوښتنو مطابق هم د کیفیت او هم د کمیت له نظره پراختیا ورکړو. په دې برخو کې باید خپلې چارې تنظیم او د وخت اړتیاوو ته په کتو پرمخ ولاړ شو، د کار بازار مطالعې ریاست او په ټوله کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت ځان ژمن بولي چې په دې سفر کې له نورو سره ملگری شي او د ټکنالوژۍ د پرمختګ سره سم، خپلې چارې پرمخ بوځي.

**۱۸ـ** آیا ستاسو وزارت د کار د فرصتونو کومه معیاري ډېټابیس جوړوي چې په دې برخه کې د خلکو او کار گمارونکو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي؟ تر څو د گمارنې پر وخت بشپړه روڼتیا رامنځته کړي؟

**ځواب:** دا د ټولو امارتي او غیر امارتي ادارو گډ مسؤلیت دی چې خپلو خلکو ته د کارموندنې په برخه کې سهولتونه برابر کړي او ستونزو ته یې رسېدنه وکړي. تر کومه چې لیدل کېږي، مختلفې ادارې وخت نا وخته خپل تش بستونه اعلان ته سپارې، چې له دې لارې وړ او مستعد هېوادوال په ځانگړې توگه ځوانان جذب کړي. زموږ معلومات ښیي چې په دې پروسه کې تر ډېره حده روڼتیا شته او مثبت اقدامات ترسره کېږي.

**۱۹ـ** تاسې د نورو هېوادونو سره داسې تړونونه یا هوکړه لیکونه لرئ چې له مخې یې افغان کاریگر بهرنیو هېوادونو کې کار وکړي ؟

له هېواده بهر د ماهرو او نیمه ماهرو افغان کاریگرو اعزام زموږ له مهمو موخو څخه دي، په دې تړاو ځینې مقدماتي هوکړې هم شوي دي، څه موده وړاندې د همدې پروسې د تعقیب په موخه د کار او ټولنیزو چارو وزارت سرپرست وزیر د قطر شاهي هېواد او فدراتیفي روسیې ته رسمي سفر تر سره او هلته یې له اړونده مقاماتو سره په دې مورد مجلسونه وکړل، چې ښې پایلې یې لرلې دي؛ خو وخت او تعقیبېدو ته اړتیا لري.

**۲۰ـ** د کار او ټولنیزو چارو وزارت د وطن څخه د باندې هغو کاریگرو لپاره چې حقوق یې خوندي نه وي څنگه ملاتړ کوي؟

**ځواب:** مونږ ځان مسؤل گڼو چې په هېواد دننه او بهر د خپلو کاریگرو د حقوقو ملاتړ وکړو، خو شرایط تاسو درک کوئ د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندلو په برخه کې ستونزې جوړې کړې دي؛ خو بیا هم د افغانستان اسلامي امارت له مختلفو لارو هڅه کوي چې د خپلو خلکو د حقوقو ملاتړ وکړي.

**۲۱ـ** کار اهل کار ته سپارل او د کاري فرصتونو وېش او گمارنه کې څومره د شفافیت ډاډ ورکوئ او تر دې دمه مو کوم اقدامات اخیستې دي؟

**ځواب:** یوازې د خپل وزارت څخه د مثال په ډول کولای شم، یادونه وکړم چې د روان کال په تشکیل کې تقریباً ۱۰۰ بستونه اضافه راکړل شول، په دې ټولو بستونو کې مو مسلکي، تخنیکي او متخصص ځوانان پرته له هېڅ راز توپیر او تبعیض څخه وگمارل. د هر ولایت، سیمې، ژبې او مذهب خلک وو او دا یوازې په مرکز کې مقرر شول. په ولایتونو کې هم همدا پروسه ترسره شوې ده او په لسگونه ځوانان مو په روان کال کې په دندو گمارلي دي. دا تفصیل مې د دې لپاره درکړ چې هم د روڼتیا او هم د مسلکي توب څخه تاسو او هم گرانو اورېدونکو ته ډاډ درکړم.


**۲۲ـ** یاد وزارت د بیکارۍ له منځه وړلو لپاره په راتلونکي کوم پلان لري؟

**ځواب:** زموږ مهمه موخه د کار ملي کانفرانس د موخو تعقیب او هم ترڅنگ یې د نورو لارو چارو لټول دي چې څنگه او له کومو لارو وکولای شو، تر څو په هېواد کې د بېکارۍ ستونزې ته معقوله او مناسبه رسېدنه وکړو.

هېوادوالو او اورېدونکو ته څه پیغام لرئ په ځانگړې ډول هغه ځوانان چې د بېکارۍ سره لاس او گریوان دي؟

خپلو هېوادوالو ته ډاډ درکوم، چې دوی دې ډاډه اوسي د افغانستان اسلامي امارت ځان مسؤل او مکلف گڼي چې له هر هغه فرصت څخه گټه واخلي چې پایله یې زموږ د خلکو هوساینه او پرمختګ او زموږ د گران هېواد افغانستان سر لوړي وي. موږ به هغه مزلونه چې نورو په کلونو کې وهل، په میاشتو کې وهو او دې ته ژمن یو او شپه او ورځ به ورته کارکوو. ان شاءالله العزیز.

والسلام علیکم ورحمة‌الله وبرکاته





# دسترسی به اطلاعات؛ حق مسلم همه

نویسنده: ابوبکر آرین

اطلاع‌رسانی دقیق، سریع و استوار برحقایق؛ یکی از مکلفیت‌ها و خدمات اجتماعی در اداره می‌باشد چنان‌چه دین مبین اسلام نیز بر شفافیت و صداقت در اطلاع‌رسانی تأکید دارد که در قرآن کریم با آیات متعددی مسلمانان را به گفتن حقایق و پرهیز از دروغ‌گویی امر نموده است.

اطلاع رسانی از امور محوله و مسؤلیت‌های ادارات، یک اصل مهم و ضروری پنداشته می‌شود؛ چون اطلاع رسانی به موقع، شفافیت به بار آورده و راه مناسب برای پیش‌گیری از فساد اداری می‌باشد.

اسلام بر شفافیت و صداقت اکیداً امر نموده است و از همین جهت همه زمامداران امور مؤظف‌اند که اطلاعات درست و معتبر را برای ملت به ویژه برای متقاضیان اطلاعات بسپارند که این حق شامل دسترسی به اطلاعات دینی، اجتماعی، اقتصادی و سیاسی می‌شود.

همین‌گونه دسترسی به اطلاعات در شریعت اسلامی موضوع پیچیده و چندبعدی است که شامل ارزش علم، حق دسترسی، شفافیت، مسؤلیت اجتماعی و حفظ حریم خصوصی می‌شود. اسلام بر اهمیت آگاهی و دانش تأکید دارد و از مسلمانان می‌خواهد که به جستجوی علم بپردازند و از اطلاعات صحیح برای تصمیم‌گیری‌های خود استفاده کنند.

همچنان حق دسترسی به اطلاعات، یکی از اصول بنیادین حقوق بشر نیز شمرده می‌شود که به افراد اجازه می‌دهد تا به اطلاعات عمومی و داده‌های مربوط به تصمیم‌گیری‌های دولتی و نهادهای عمومی دسترسی پیدا کنند. این حق به عنوان ابزاری برای شفافیت، پاسخگویی و مشارکت شهروندان در فرآیند سیاسی و اجتماعی شناخته می‌شود که نخستین مزیت حق دسترسی به اطلاعات، ارتقای شفافیت در حکومت‌داری است. هرگاه که اطلاعات عمومی در دسترس شهروندان قرار گیرد، دولت‌ها مجبور می‌شوند تا عملکرد خود را شفاف‌تر کنند و از پنهان‌کاری پرهیز نمایند. این شفافیت می‌تواند به کاهش فساد و سوءاستفاده از قدرت کمک کند و اعتماد عمومی را افزایش دهد.

دومین مزیت این حق، تقویت مشارکت مدنی است؛ زمانی که شهروندان به اطلاعات لازم دسترسی داشته باشند، می‌توانند در فرآیند تصمیم‌گیری مشارکت کنند و نظرهای خود را بیان نمایند. این موضوع نه تنها به تقویت نظام مردمی کمک می‌کند، بلکه احساس تعلق و مسؤلیت اجتماعی را نیز در میان افراد افزایش می‌دهد؛ همچنان مزیت حق دسترسی به اطلاعات، ارتقای کیفیت خدمات عمومی است. با فراهم کردن اطلاعات دقیق و به‌روز، نهادهای دولتی می‌توانند نیازهای واقعی جامعه را شناسایی کرده و خدمات بهتری ارایه دهند و به شهروندان این امکان را می‌دهد که از حقوق خود آگاه شوند و در صورت نیاز، از نهادهای مسؤل پاسخ بخواهند و همین‌گونه یکی از مزیت‌های حق دسترسی به اطلاعات، حمایت از حقوق انسان‌ها است؛ حق دسترسی به اطلاعات به عنوان یک ابزار مؤثر برای دفاع از حقوق انسان‌ها شناخته می‌شود. با دسترسی به اطلاعات، افراد می‌توانند نقض‌های احتمالی حقوق انسانی را شناسایی کرده و آن‌ها را گزارش دهند. این موضوع به ایجاد یک فرهنگ حقوق انسانی کمک می‌کند و باعث می‌شود که




مسؤلان بیش‌تر پاسخگو باشند.

به اساس بررسی بالا گفته می‌توانیم که حق دسترسی به اطلاعات، ارتقای نوآوری و پی‌شرفت اقتصادی است. دسترسی به اطلاعات می‌تواند به کسب‌وکارها و کارآفرینان کمک کند تا فرصت‌های جدید را شناسایی کنند و تصمیم بهتر بگیرند. این موضوع نه تنها به رشد اقتصادی کمک می‌کند، بلکه باعث ایجاد یک محیط رقابتی سالم نیز می‌شود.

در مورد اصول حق دسترسی به اطلاعات باید گفت که نخستین اصل این است که اطلاعات باید به آسانی و بدون تبعیض در دسترس عموم قرار گیرد. این بدان معناست که هیچ فرد یا گروهی نباید از دسترسی به اطلاعات محروم شود و همه باید بتوانند به صورت برابر از این حق بهره‌مند شوند؛ هم‌چنان دومین اصل این است که اطلاعات باید شفاف و قابل فهم باشد. دولت‌ها و نهادهای عمومی مؤظف‌اند تا اطلاعات را به گونه‌ای ارایه دهند که برای عموم قابل درک باشد. این شامل استفاده از زبان ساده، ارایهٔ توضیحات کافی و استفاده از فرمت‌های مختلف برای دسترسی آسان‌تر است؛ سومین اصل، تضمین امنیت اطلاعات است. در حال‌که حق دسترسی به اطلاعات بسیار مهم است، باید توجه داشت که برخی اطلاعات ممکن است حساس باشند و افشای آن‌ها ممکن است به امنیت ملی یا حریم خصوصی افراد آسیب برساند. بنابر این، لازم است که تعادل مناسبی بین حق دسترسی و حفاظت از اطلاعات برقرار شود.

چهارمین اصل، شفافیت در فرآیندهای درخواست اطلاعات است. شهروندان باید بدانند که چگونه می‌توانند درخواست‌های خود را برای دسترسی به اطلاعات ثبت کنند و چه مراحلی را باید طی کنند. این شفافیت باعث افزایش اعتماد عمومی به نهادها خواهد شد.

در نهایت، پنجمین اصل این است که باید سازوکارهای مؤثری برای رسیده‌گی به شکایات مربوط به عدم دسترسی به اطلاعات وجود داشته باشد. اگر شهروندان نتوانند به اطلاعات مورد نیاز خود دسترسی پیدا کنند، باید بتوانند شکایت کنند و نهادهای مسؤل مؤظف باشند تا به این شکایات رسیده‌گی کنند. این موضوع نه تنها حق دسترسی را تقویت می‌کند؛ بلکه باعث افزایش پاسخگویی نهادها نیز می‌شود.

یکی از مواردی‌که در بالا یادآوری نمودیم حریم خصوصی افراد است که دین مبین اسلام نیز در مورد حفظ حریم خصوصی تأکید نموده است و به‌اساس قوانین نیز این نوع از اطلاعات نباید شریک شود و آن اطلاعات شخصی می‌باشد که از نظر قوانین اطلاعات شخصی؛ نام، تخلص، نشانی محل سکونت و محل کار، وضعیت زنده‌گی شخصی و خانواده‌گی، اسناد صحی، یادداشت‌ها، مراسلات، داد و ستد، حساب بانکی، رمز عبور و سایر اطلاعاتی که به وظایف رسمی وی ارتباط نداشته باشد شامل می‌باشد.

بناءً بر مزیت‌های دسترسی به اطلاعات از دیدگاه دین مبین اسلام و سایر قوانین؛ ادارات مکلف به ارایهٔ معلومات دقیق و شفاف از فعالیت و سایر برنامه‌های کاری خویش می‌باشند تا در آینده نزد خداوند و سایر قوانین مسؤل نبوده و در امر پی‌شرفت و ترقی کشور خویش سهیم گردند.



# په ټولنه کې د کسب او کار ارزښت

کامران ملک، د پوهنتون استاد

که موږ غواړو د یوې ټولنې د پرمختګ او وروسته والی معلوم کړو؛ نو باید وګورو چې په هغه ټولنه کې خلک کار کوي او که نه؟که کوي یې نو څه قسم کار؟

همدا کسب او کار دی چې انسان ته قوت وربخښي، انسان مخکې بیایي او د ژوند اړتیاوې یې پوره کوي او که کوم کس برعکس کار نه کوي؛ نو هغه کس ضعیف، وروسته یا پاتې بلل کېږي.

بېکاره ژوند داسې ده. لکه: یو انسان چې بې اوبو ژوند کوي، آیا بې اوبو ژوند کول ممکن دی؟

که د اسلام مبارک دین ته راشو؛ نو اسلام هم کسبګر او کاریګر ته ډېر اهمیت ورکړی او هغه یې د خدای جل جلاله دوست ګڼلی، خو بیا دا هم مهمه ده چې آیا یاد کس د کوم کار توانایي لري؟ یا په بله اصطلاح د پوهې سطحه یې په کوم کار کې لوړه ده او یا یې کوم کار ته بدني جوړښت برابر دی؟

کېدای شي ووایو چې د یو شخص بدن ضعیف دی او یوائې کولای شي چې د ښوونکي دنده پرمخ بوځي، کوم چې یې خلک ډېر قدر کوي، اما بل شخص بیا داسې کار کوي چې فزیکي جوړښت یې ورته آماده وي او یاد کار په اسانه توګه ترسره کولای شي.

یوه ټولنه راز راز کارونو ته اړتیا لري د چا ذهني قوت که زیات وي؛ نو هغه یو علمي کار مخ ته وړي په بل طرف که څوک په فزیکي لحاظ قوي وي کېدای شي نور کسبونه غوره کړي. لکه: دوکانداری، مستریتوب، ساعت جوړول، مبایل جوړول، کلالي او داسې نور...

خو مهمه خبره دا ده چې ټولنه باید کسبګرو ته په ښه نظر وګوري او هغوی مختلف کسبونو ته وهڅوي.

سود، قیمار، شراب، چرس او نشه‌یي توکي، د انسانانو په غیر قانوني توګه قاچاق، د غیراخلاقي فلمونو کتل او د پردي بد فرهنګ ښودونکي فلمونو او لباسونو کاروبارونه، هغه څه دي چې زموږ د ځوانانو او ماشومانو د بې لارې باعث ګرځي. د ټولنې تجاران دا مسؤلیت لري، تر څو د داسې کارونو پر ځای یوې ټولنې ته د مثبت شیانو د تولیدولو، صادرولو او یا له بل هېواده د واردولو فکر وکړي. لکه: قلم، کتابچه، علمي کتابونه، علمي مجلې، علمي او دیني سریالونه او داسې نور...

هغه سوداګرو چې د پوډرو، شرابو یا نور ناوړه کار کوي؛ نو لومړی یې خپل اولاد په یاد مرض اخته کېږي او بیا د ټولنې د ځوانانو په بربادۍ کې مهم رول لوبوي، کسبګر یا سوداګر چې کوم شی ځان ته او خپل اولاد ته نه خوښوي نورو ته یې هم باید خوښ نه کړي.

د یو کار په پیل کې ځینې نقطې چې قدرمن کسبګران یې باید په ذهن کې ونیسي:

١. صداقت او ریښتینولي او له درواغو ځان ژغورل
٢. له ډېر قسم خوړلو ځان ساتل
٣. دروغ ویل او یا د جنس عیب پټول
٤. هغه کار او کسب چې د اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي
٥. د سود نه خالي کاروبار، ځکه سودخور سره خدای د جنګ اعلان کړی
٦. په کار کې له شک او شبهې ځان ساتل
٧. له دوکې، چل او فریب نه ځان ساتل
٨. احتکار کول

دا ټول هغه شیان دي چې کسبګر، کاریګر او سوداګر باید ترې ځانونه وساتي، تر څو ټولنه ښه طرف ته لاړه شي، نه دا چې دوی یې یاده ټولنه د زوال طرف ته بوځي.

که چېرته یو تجار او کاریګر په واقعي توګه وګوړئ او پورته نقطې له یاده ونه باسئ؛ نو دا کار هم تجارت او هم عبادت ګڼل کېږي. د حدیث شریف په وینا: صادق او امین تجار د نیکونو او شهیدانو سره د قیامت په ورځ راپاڅېږي. د دې ترڅنګ صادق سوداګر او کاریګر کولای شي ټولنه او د ټولنې زیات وګړي له شر، جنګ او بېکارۍ څخه وژغوري.

د هر هېواد دولت دا مسؤلیت لري چې کاریګرو ته د کار د پیداکولو زمینې مساعدې کړي، تر څو خلک له بدو کارونو او جنګونو نه د حلال رزق په ګټلو بوخت شي او کاریګرو او سوداګرو ته سهولتونه چمتو کړي، تر څو خلک د کاروبار شروع کولو او کار کولو طرف ته تشویق شي.



# فلسفۀ اقتصادی و اجتماعی زکات

نوشته و تحقیق: محمد محفوظ تائب

**اول: فلسفۀ اقتصادی زکات**

دین اسلام دین وسط است و همواره پیروان خود را به میانه‌روی امر می‌کند. چنان‌چه الله جل جلاله می‌فرماید: «وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا» آیۀ (١٤٣) سورۀ البقره ترجمه: و همچنان گشتاندیم شما را امتَ میانه تا باشید شاهدان بر بالای مردم و می‌باشد رسول صلی الله علیه وسلم شاهد بر بالای شما.

در حدیث بیهقی از ابن عمر رضی الله عنهما روایت می‌کند که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمودند: «الاقتصادُ فی النفقة نصف المعیشةِ» ترجمه: میانه روی در مصارف اهل و عیال نصف زنده‌گی است.

بناءً یکی از خواسته‌های اسلام تأمین عدالت و برابری میان هر یک از افراد و اقشار جامعه می‌باشد. و این برابری در روی زمین زمان قایم می‌شود که همه از لحاظ زنده‌گی و معیشت در یک ردیف اقتصادی قرار بگیرند تا کسی مجبور به تگدی نشود، فلهذا الله متعال زکات را منحیث ستونی از ستون‌های اصلی و یکی از ارکان مهم در دین مقدس اسلام قرار داده و آن را بالای بنده‌گان خود در حالات و شرایط مناسب فرض گردانیده است.

**تعریف زکات**

زکات در لغت به معنای پاکی و زیادت می‌باشد و در اصطلاح عبارت است از: دادن مقدار معین مال برای مستحقین که به حد نصاب رسیده باشد به نیت ادای زکات بدون کسب منفعت.

در شرح تعریف زکات دو نقطه قابل درک است: اول «مستحقین» که با دادن زکات از ایشان دستگیری صورت می‌گیرد و این عمل خود تضمین کننده کاهش فقر بوده و پا گذاشتن به سوی مساوات و برابری می‌باشد و سبب حفظ تعادل اقتصادی در جامعه می‌شود. دوم «بدون کسب منفعت» که زکات دهنده از زکات گیرنده در آینده‌های دور و یا نزدیک هیچ‌گونه منفعت طلبی نه نماید و زکات گیرنده بتواند به خاطر راحت در استفاده از پول زکات که به دست آورده است اقدام کند و یاهم اگر مقدار زکات زیاد باشد آن‌را دربخش‌های مختلف اقتصادی در سرمایه گذاری‌های کوچک به‌کار بیاندازد.

**شرایط فرضیت زکات**

اسلام، عقل، بلوغ، آزادی، داشتن نصاب، گذشتن سال، فارغ بودن مال از حاجت اصلی و قرض، قابل نمو بودن مال و حلال بودن مال از جمله شرایط فرضیت زکات اند که هر یک مفصلاً قرار ذیل بیان می‌شود.

**شرط اسلام:** مسلمان بودن و زیر چتر اسلام زنده‌گی کردن یکی از نکات مهم را که در بخش زکات در پی‌دارد این است که اقتصاد خانواده‌های نیازمند مسلمان را در سر زمین‌های اسلامی بلند می‌برد و مختص به جامعۀ اسلامی و مسلمانان می‌باشد و جامعۀ کفری از این امر مستثنٰی اند.

**شرط عقل:** هوشیار بودن نکته‌ای دیگری است که اشخاص معتوه و فاقد عقل اگر چه صاحب مال هم باشند از لحاظ شریعت مکلف به پرداخت زکات نبوده و صلاحیت تادیۀ آن را به کسی ندارند، چون از لحاظ احکام شرعی اموال و هر آنچه مربوط به اقتصاد می‌شود وابسته به قوۀ تفکر و تعقل بوده که اشخاص کم عقل و دیوانه از این امر محروم اند.

**شرط بلوغ:** بالغ بودن نکته‌ای دیگری است که هرگاه اشخاص زیر سن مال دست داشتۀ خود را منحیث زکات به کسی بدهد به معنای گرفتن اقتصاد به بازیچه و تمسخر می‌باشد که این امر خلاف آموزه‌های دینی بوده و محاکم اسلامی آن‌را نه پذیرفته و مردود می‌دانند.

**شرط آزادی و حریت:** آزاد زنده‌گی کردن نکتۀ دیگری است که رازهای پنهان در آن نهفته می‌باشد و آن این‌که اگر شخصی در حالت قید و بند پول را به‌نام زکات به کسی بدهد گمانه زنی‌های زیاد را به میان می‌آورد و آن این‌که شاید جهت آزادی و رهایی خود از بند، مبلغی را منحیث رشوه به‌نام زکات به کسی پرداخت کرده‌است و یا هم این‌که، چون او در بند به سر می‌برد و حق کار کردن را نه‌داشته و درآمدی برای تداوم زنده‌گی خود و خانواده خویش ندارد او خود سزاوار کمک و دستگیری می‌باشد نه این‌که او در حالت بند برای دیگران کمک نماید. بناءً شخصی‌که در بند به‌سر می‌برد از لحاظ شرعی و اقتصادی با دادن زکات مکلف نبوده و نباید با پا فشاری‌های بی‌جا خود را به لبۀ گودال فقر قرار بدهد.

**شرط داشتن نصاب:** رسیدن پول نقد، طلا و نقره به حد معین و مشخص نکتۀ دیگری از لطف و شفقت شریعت را نشان می‌دهد که برای زکات دهنده در نظرگرفته است و آن این‌که شخص قبل از رسیدن به حد معین که از طرف شریعت تعین شده است مکلف به پرداخت زکات نبوده و می‌تواند به خاطر راحت به کار و بار خود رسیده‌گی نماید. مانند: نصاب پول نقد، هرگاه کسی بعد از گذشت یک سال مالک چهل هزار افغانی شود و در صورتی‌که پول از مصارف داخلی او اضافه باشد و یا هم پول او زیاد شده باشد، زکات آن یک هزارافغانی می‌شود و یا هم اگر طلا و نقره باشد نصاب و حد معین طلا ۸۵ گرام و نصاب و حد معین نقره ۲۰۰ درهم شرعی می‌باشد.

**شرط گذشتن سال:** نکتۀ دیگری است که نهایت شفقت اسلام را نسبت به پیروان‌اش نشان می‌دهد و زکات دهنده قبل از رسیدن این معیاد مکلف به پرداخت پول زکات به کسی نمی‌باشد، این‌که تجارت از خود فراز و نشیب‌های زیاد را در پی دارد؛ اسلام با دور نمای دقیق اقتصادی آن‌را در نظر گرفته و گذشت سال را برای زکات دهنده شرط قرار داده است. حکمت گذشتن سال بالای جنس که در نظر است از آن زکات داده شود اینست که ممکن در مدت یک‌سال تجار و یا دارندۀ پول نقد تاوان نماید و یا هم طلا و نقره‌ای موجود در نزد صاحبش از حد نصاب کم‌تر شود پس در حالت کمی و کاستی و رشد نکردن پول پرداخت زکات از ذمه صاحب‌اش ساقط می‌شود.

شرط فارغ بودن مال از حاجت اصلی و قرض؛ این‌که شخص زکات دهنده از حاجت اصلی خود مال فارغ داشته باشد و قرض‌دار نباشد نکتۀ دیگری است که ترحم، مهربانی، شفقت و ملایمت اسلام را بیان می‌کند و به جهانیان این پیام را می‌رساند که اسلام دین میانه‌ای بوده و در آن افراط و تفریط جا ندارد و هیچ‌گونه ظلم را در حق پیروان‌اش روا نمی‌دارد. بناءً هر گاه کسی از حاجت اصلی خود اضافه، مالک پول نباشد و یا هم قرض‌دار باشد، مکلف به دادن زکات نمی‌شود.

**شرط قابل نمو بودن مال:** نکتۀ قابل ملاحظۀ دیگری است که در پرداخت زکات نقش مهم دارد و آن این‌که اگر دارندۀ پول در مدت یک‌سال به شکست رو برو شود و یا هم در سرمایه‌گذاری‌های خود تاوان کند، مکلف به پرداخت زکات نمی‌باشد. و یا هم ممکن اگر شخص در مدت یک‌سال قرض‌دار شود، از دادن زکات معاف می‌گردد. بناءً اسلام تعادل اقتصادی را در نظر گرفته و بالای پیروان خود در هر حالت از لطافت و نرمش استفاده می‌کند. اسلام دین است برگزیده شده از طرف رب العالمین که در حالت تنگ‌دستی و اضطرار اکثر احکام آن بنابر منافع پیروانش معطل می‌شود و چنین مرحمت را در ادیان گذشته نمی‌توان سراغ کرد.

**شرط حلال بودن مال:** نکتۀ دیگری است که در جهت قبولیت زکات نقش مهم و کلیدی را بازی می‌کند بناءً اشخاص غیر مسلم و هم‌چنان کسانی‌که از طریق جعل، تزویر، فریب، کلاه برداری‌ها، سود و ربا صاحب مال و دارایی می‌شوند از نظر اسلام همه هست و بود آن‌ها حرام می‌باشد چنین  اشخاص با کمک‌های مالی بی‌حد و مرز خود به نیازمندان از هیچ اجر و ثواب مستفید نه شده و الله متعال  هیچ چیزی را به عنوان زکات از ایشان نمی‌پذیرد. فلهذا اگر شخص مسلمان از پول جمع شده خود به طریق غیر مشروع و حرام اقدام به پرداخت زکات نماید عمل او مورد قبول شارع نبوده و مردود پنداشته می‌شود. الله جل جلاله مالی را منحیث صدقه و زکات می‌پذیرد که کاملا منزه بوده شبه حرام در آن جا نداشته و حلال باشد.

**مصارف زکات**

بنابر رهنمودهای قرآنی مصارف و یا گیرنده‌های زکات قرار ذیل اند: «إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ» آيهٔ ( ٦٠ ) سورهٔ التوبه ترجمه: به تحقیق صدقات فرضی همانند زکات هست برای فقراء، مساکین، عاملین، مؤلفةالقلوب، غلامان یا برده‌گان، قرض‌داران، مجاهدین و طالبانی که در جستجوی علم استند و مسافران تهی‌دست، این حکم فرض گردانیده شده است از طرف الله.

**۱ـ فقرا:** کسانی اند که هیچ چیزی برای تأمین زنده‌گی خود ندارند و کاملا تهی‌دست می‌باشند. پیش قدمی فقراء در آیۀ مبارکه به جهت است که ایشان نسبت به دیگران محتاج‌تر و مستحق‌تر اند و به نظر جمهور علمای جهان اسلام فقراء اکثراً کسانی اند که هیچ‌گاه از کسی طلب چیزی را نمی‌کنند. با دادن زکات به این گروه، توان خریداری در جامعه پدید می‌آید که این خود نشان دهندۀ رشد اقتصادی بوده و بلند رفتن اقتصاد خانواده‌ها را با خود در پی دارد.

**۲ـ مساکین:** کسانی اند که غذای یک وقت خود را دارند و نمی‌دانند وقت بعدی غذای ایشان از کجا می‌شود، این گروه در چنین وضعیت مستحق زکات اند تا با گرفتن این پول ظرفیت اقتصادی آن‌ها بلند رفته و بتوانند زنده‌گی خود را تداوم ببخشند.

**۳ـ عاملین:** کسانی اند که از طرف دولت اسلامی برای جمع آوری زکات مقرر شده اند و کدام معاش در بدل کار ایشان به آن‌ها داده نمی‌شود. برای این‌که این گروه بتوانند زنده‌گی خود را تأمین کنند شریعت ایشان را مستحق می‌داند تا زکات به ایشان پرداخت شود.

**٤ـ مؤلفةالقلوب:** کسانی اند که کافر استند؛ اما در حالت تنگ‌دستی قرار داشته و به وفاداری اسلام احتیاج دارند، اگر زکات به آن‌ها داده شود ممکن است قلوب ایشان به پذیرفتن اسلام مایل شده و در آینده‌های نزدیک اسلام بیاورند.

**٥ـ رقاب:** کسانی اند که گردن‌های آن‌ها در قید دیگران قرار داشته و آزاد نمی‌باشند، اگر زکات به این گروه داده شود ممکن با پول دست داشتۀ خویش با مالک و بادار خود قرار داد رهایی را بسته کرده و با پرداخت مقدار معین پول به او خود را از قید برده‌گی رها کنند.

**٦ـ غارمین:** کسانی اند که قرض‌دار بوده و توانایی پرداخت قرض خویش را ندارند، اگر زکات به این گروه داده شود ممکن از پول زکات قرض خود را اداء کرده و از قرضداری نجات پیدا کنند، پرداخت زکات به قرض‌داران عمل است که خود سبب شگوفایی اقتصادی در جامعه شده و توانایی مالی مردم را بالا می‌برد.

**۷ـ فی سبیل الله:** کسانی اند که در راه الله جل جلاله و به‌خاطر اعلای کلمة الله جهاد می‌کنند و یا هم طالب العلم استند که زنده‌گی خود را در راه آموزش دین اسلام وقف کرده‌اند، این گروه مستحق زکات دانسته

می‌شوند چون ایشان مدرک مالی نداشته و فاقد درآمد اند.

**۸ـ ابن سبیل:** کسانی اند که از وطن خود دور بوده و در حال غربت و مسافرت به سر می‌برند، اگر چه این گروه در وطن خود صاحب مال و دارایی فراوان هم باشند؛ ولی در سر زمین دیگران در صورت ضرورت و در تنگنای اقتصادی مستحق زکات پنداشته می‌شوند و باید زکات به آن‌ها داده شود تا توانایی اقتصادی ایشان بلند رفته و قدرت خرید را در اجتماع پیدا کنند و مجبور به تگدی و دست‌درازی به دیگران نه‌شوند.

هشت گروه یادشده عبارت از کسانی اند که با نص صریح قرآن مستحق زکات پنداشته می‌شوند و ایجاب می‌نماید تا پول زکات به ایشان داده شود تا باشد که از این طریق کاهش فقر را در جامعه شاهد بوده و پدید آمدن رشد اقتصادی را در اجتماع خود تجربه نماییم. فقر پدیدهٔ بد است که از بین رفتن و یا هم کاهش آن در حقیقت سبب شگوفایی و رفاه جامعه و خانواده‌ها شده و یکی از فلسفه‌های مهم اقتصادی زکات به‌شمار می‌رود.

**دوم: فلسفهٔ اجتماعی زکات**

**۱ـ** زکات در اجتماع خیر و برکت را به بار می‌آورد و سبب رشد محصولات و فرآورده‌های زراعتی می‌شود. چنان‌چه الله جل جلاله می‌فرماید: «مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ» آیهٔ (۲٦۱) سورهٔ البقره ترجمه: مثال کسانی‌که انفاق می‌کنند اموال خود را در راه الله متعال به مثل دانه گندم است که می‌روید از آن هفت خوشه و در هر خوشهٔ آن صد دانه گندم جاگزین می‌باشد و الله متعال دو چند و اضافه می‌کند برای کسی‌که خواسته باشد و الله وسعت دهنده و دانا است.

**۲ـ** زکات در اجتماع حس همکاری و تعاون را به وجود می‌آورد. چنان‌چه الله[جل‌جلاله] می‌فرماید: «وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ» آیهٔ (۲) سورهٔ المائده ترجمه: و همکاری کنید یک‌دیگر تان را در کارهای نیک و پرهیزگاری. و همکاری نکنید یک‌دیگر تان را در کارهای گناه و تجاوز. بناءً در تادیهٔ زکات رمز پوشیده‌گی و پنهان وجود ندارد و پرداخت آن به‌شکل آشکارا صورت می‌گیرد و این یکی از شاخصه‌های مهم فلسفهٔ اجتماعی زکات شمرده شده که جنبهٔ تشویقی در آن کاملا به و ضاحت دیده می‌شود تا همه به پرداخت آن اقدام کرده و حق مستمندان به ایشان داده شود.

**۳ـ** زکات در اجتماع احساس محرومیت فقرا و مساکین را از بین می‌برد. چنان‌چه الله[جل‌جلاله] می‌فرماید: «لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ» آیهٔ (۵۳) سورهٔ الزمر ترجمه: مأیوس و نا امید نه‌شوید از رحمت الله متعال. زکات حس امیدواری، محبت، هم‌دلی و هم‌پذیری را در میان افراد ایجاد می‌کند تا این‌که باعث بلند رفتن اعتماد بنفس فقرا شده و کسی را در جامعه در نمی‌یابیم که احساس کمی و حقارت کند چون با پرداخت زکات فقر از بین رفته و هر شخص وجود فزیکی خود را در جامعه مفید و مؤثر ارزیابی می‌کند.

**٤ـ** زکات سبب پاکی از گناهان و تزکیه نفس می‌شود. چنان‌چه الله[جل‌جلاله] می‌فرماید: «خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا» آیهٔ (۱۰۳) سورهٔ التوبه ترجمه: بگیر، از اموال ایشان زکات را، تا زکات باعث پاکی و تزکیهٔ نفس ایشان شود، زکات در حقیقت چرک مال است که با دور کردن آن مال پاک شده و قلب زکات دهنده مطهر و عاری از گناه می‌شود .

**۵ـ** زکات در اجتماع میان افراد تعادل و برابری اقتصادی را به میان می‌آورد و سطح زنده‌گی همه را یک‌سان می‌سازد، زکات تفاوت‌های معیشتی انسان‌ها را از بین برده و سبب رفاه اقتصادی افراد در اجتماع می‌گردد.

**٦ـ** زکات امن اجتماعی را به میان آورده و تنش‌ها را از بین می‌برد، زکات پل است میان اغنیا و فقرا که به وسیله‌ای آن بدبینی‌ها و نفرت‌ها از بین رفته و سبب به وجود آمدن فضای آرامش و سکون در اجتماع می‌شود.

**۷ـ** زکات وسیلهٔ مهم برای از بین رفتن فقر و کاهش آن در اجتماع بوده و سطح زنده‌گی افراد جامعه را بلند می‌برد و نیاز فقرا، مساکین و مستمندان را مرفوع می‌سازد.

**۸ـ** زکات در اجتماع روابط اخوت و برادری را تقویت می‌بخشد؛ کینه، بغض و عداوت‌ها را از میان بر می‌دارد. جالب این‌که اگر اغنیا و پول‌داران زکات اموال و دارایی‌های خود را پرداخت نه‌کنند میان اقشار فقیر و غنی فاصله‌های در جامعه ایجاد شده و عقده‌های خصمانه‌ای در مقابل اغنیا بر انگیخته می‌شود که این خود سبب از هم پاشیدن روابط اخوت و برادری در اجتماع می‌شود.

**۹ـ** زکات در اجتماع باعث فرو نشاندن قهر الله متعال می‌شود. چنان‌چه انس ابن مالک از پیامبر صلی الله علیه وسلم روایت می‌کند که ایشان فرمودند: «الصَّدَقَةُ تُطفِئُ غَضَبُ الرَّب» ترجمه: زکات و صدقات خاموش می‌کند خشم و غضب پروردگار را، بناءً تادیهٔ زکات جامعه اسلامی را در برابر آفات الهی از قبیل سیلاب‌ها، آتش‌فشان‌ها، طوفان‌ها و زلزله‌های خطرناک محفوظ می‌دارد.

**۱۰ـ** زکات در اجتماع مظهر نمایش بزرگ اطاعت مخلوق در برابر خالق است و سبب قرب و نزدیکی به خالق می‌شود؛ چنان‌چه الله[جل‌جلاله] می‌فرماید: «قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ» آیهٔ (۳۲) سورهٔ آل عمران ترجمه: بگو ای پیامبر صلی الله علیه وسلم برای ایشان: اگر شما هستید در حالی‌که دوست می‌دارید الله را؛ پس من را اطاعت کنید، در مقابل الله متعال دوست می‌دارد شما را. بدون شک با پرداخت زکات یکی از جمله اوامر و فرمان‌های مهم پروردگار عالمیان در جهان هستی تحقق می‌یابد و انسان مؤمن به الله جل جلاله نزدیک شده و زکات وسیلهٔ مهم برای قرب الهی می‌شود.

**۱۱ـ** زکات در اجتماع سبب بلند رفتن مقام و جایگاه زکات دهنده می‌شود؛ چنان‌چه ابو هریره رضی الله عنه از پیامبر صلی الله علیه وسلم روایت می‌کند که ایشان فرمودند: «مَن تَوَاضعَ لله رَفَعَهُ الله» ترجمه: کسی‌که تواضع و عاجزی کرد از برای الله، بلند می‌کند الله جل جلاله مقام و منزلت او را. و انسان‌هایی که در اجتماعات اسلامی به پرداخت زکات اقدام می‌کنند در حقیقت از جایگاه بلند در اجتماع برخوردار بوده و همیش مورد احترام همه قرار می‌گیرند.

**۱۲ـ** زکات در اجتماع سیستم طبقاتی را از بین می‌برد و همه به شکل یک‌سان به زنده‌گی اجتماعی خود ادامه می‌دهند و با دادن زکات به نیازمندان تفاوت‌های اقتصادی مردم از بین می‌رود و همه در یک ردیف اقتصادی قرار می‌گیرند، چنان‌چه تاریخ به این امر گواه است که در زمان خلافت خلفای راشدین از جمله حضرت عمر رضی الله عنه اصلاً مستحق در سر زمین اسلامی پیدا نمی‌شد تا شخص زکات دهنده زکات خود را به او پرداخت نماید.

**۱۳ـ** زکات در اجتماع گراف جرایم را پاین می‌آورد و سبب کاهش اعمال جرمی و جنایی می‌شود. چون نه‌دادن زکات به مستمندان عقده‌های درونی آن‌ها را در مقابل اغنیا بر انگیخته و دست به اعمال جرمی ازقبیل آدم ربایی، سرقت‌های مصلحانه وغیره ... می‌زنند و با پرداخت زکات به فقرا میزان وقوع این گونه اعمال به حد کافی تنزیل می‌یابد.



# په ژوند کې نهه اړينې موخې

محب الله آرمل

د دې لپاره چې ژوند مو آرام، ښايسته، منونکی، بريالی او خوښ وي، اړينه ده چې موخه ولرئ. موخې د ژوند لورى ټاکي او زموږ وخت سم لوري ته مديريت کوي، بې موخې ژوند داسې دی لکه په ګڼ ښار کې چې په هغه کور پسې ګرځو چې آدرس يې راسره نشته .

**موخه ولې مهمه ده ؟**

که په ژوند کې هېڅ موخه و نه لرئ ژوند به مو له غمونو او کړاوونو ډک وي، هېڅ به ستاسې په خوښه مخکې لاړ نه شي او د ژوند چارې به مو ورانې وي.

که موخه نه لرئ مانا يې دا ده چې په ژوند مړه شوي ياست، موخه د وخت مديريت ته لار هواروي، د هيلو د پوره کېدو لامل ګرځي، د کار او فعاليت انګېزه درکوي او ژوند ته مو دقيق کوي.

دا سمه ده چې انسان تفريح ته هم اړتيا لري، ځينې وخت يې موډ خراب وي ممکن يو ذوقي کار وکړي، خو هېڅ وخت بايد موخه هېره نه شي، هر کار چې کوو په کار ده چې د خپلو موخو سره همغږي وکړو.

د ليکنې په پاتې برخه کې ۹ ډوله موخې درپېژنو چې په ژوند کې يې لرل مهم دي، دا هغه موخې دي چې د ژوند په بېلابېلو برخو کې يې بايد د ځان لپاره وټاکئ.

**۱ ـ لنډ مهاله موخې**

دا هغه موخې دي چې تاسې يې بايد په يو کال يا تر يوه کال په کم وخت کې تر لاسه کړئ، لنډه مهاله موخې دا مانا نه لري چې ګواکې دا موخې مهمې نه دي، د دغه ډول موخو مقصد دا دی چې ځينې کارونه کم وخت ته اړتيا لري.

هر وخت چې موخه ټاکئ د پای ته رسېدو وخت يې معلوم کړئ، که د موخې وخت معلوم نه وي ممکن هغه موخه کال وخت واخلي چې په مياشت کې د ترلاسه کېدو وړ ده. لنډمهاله موخې د اوږد مهاله موخو په تر لاسه کولو کې هم مهم رول لري بلکې د اوږد مهاله موخو تر لاسه کېدو ته لار هواروي.

**د لنډ مهاله موخو څو بېلګې:**

★ هره مياشت د لګښتونو او عوايدو محاسبه کول.
★ بې‌ځايه لګښتونه د شپږو مياشتو په اوږدو کې حد اقل ته رسول.
★ په ۳۰ ورځو کې د سګرېټو پرېښودل.
★ د يوه کال په موده کې د انګليسي ژبې زده کړه.

**۲ ـ اوږد مهاله موخې**

اوږد مهاله موخې يو څه زيات وخت ته اړتيا لري، خو کولای شو چې اوږد مهاله موخې تجزيه کړو او په څو لنډه مهاله موخو يې ووېشو.

اوږد مهاله موخې ستومانه کوونکې وي، انسان فطرتاً عادت لري چې اوږد مهاله صبر او مبارزه ورته ګرانه ده، خو که موخه تجزيه شي هم آسانه کېږي او هم د زغم وړ ګرځي.

**د اوږد مهاله موخو ځو بېلګې:**

★ تر دوه کلونو پورې د میاشتیني عاید د میاشتې سل زره افغانیو ته رسول.

★ د کور د اخیستو لپاره پیسې سپما او د درېیو کلونو په موده کې کور اخیستل.

★ په یو کال کې کور جوړول.

★ د پوهنتون لوستل.

۳ ـ سوداګریزې (تجارتي) موخې

دغه ډول موخې ستاسې په کاروبار پورې اړه لري، په کسب او کار پورې اړوند موخې د عوایدو زیاتېدو، کم زیان او اخیستونکو جذب ته لار هواروي.

د ځان لپاره سوداګریزې موخې وټاکئ، ځان یوازې تر هغه عادتونو پورې مه محدودوئ چې لرئ یې، د کاروبار د پیل او پای وخت معلوم کړئ.

**د سودا ګریزو موخو ځو نمونې:**

★ په خپل کار و بار کې نوښت، زیاتونه او پرمختګ راوستل.

★ د شتمني پیدا کولو هغه لارې چارې موندل چې تر سره کول یې درته په زړه پورې دي.

★ د هغو عادتونه پرېښودل چې ستاسې د سوداګرۍ په پروسه کې خنډونه جوړوي.

★ د کاروبار په ساحه کې د خوشحالۍ او رضایت را منځته کول.

**۴ ـ شغلي موخې**

دا هغه موخې دي چې غواړئ په خپل مسلک کې کومې وړتیاوې ولرئ او په کومو مسایلو برلاسي و اوسئ، څنګه شغل ستاسې لپاره مناسب دی او څومره وخت کې باید ځان پکې ورسوئ.

که مو طب خوښېږي نو کومه څانګه باید و لولئ؟ ستاسې په اند د داخله ناروغیو ډاکټر باید واوسئ او که د اطفالو؟ تخصص باید په کوم ځای کې په کومو شرایطو تر سره کړئ؟

د شغلي موخو ځو نمونې :

★ په خپل مسلک کې ارتقاء کول.

★ د مسلک اړوند برخه کې پانګونه کول.

★ د مسلک اړوند تخصص تر لاسه کول.

★ د داسې مسلک ټاکل چې تر تقاعد وروسته پرې وویاړئ.

**۵ ـ کورني موخې**

دغه ډله موخې د کورنۍ له غړو سره د اړیکو په محور راګرځي.
په دې برخه کې باید داسې موخې وټاکئ چې کورنۍ ته مو لا ژمن کړي، داسې موخې چې د کورنۍ د رضایت او وړیا سبب وګرځي.

**مثال :** په دې اونۍ، میاشت او یا کال کې څه کولای شئ چې کورنۍ مو لا باور درباندې وکړي او زړه یې تر لاسه کړئ، داسې څه باید ترسره کړئ چې کورنۍ مو له کړنو ډاډه شي او پر تاسې وویاړي.

**د کورنیو موخو ځو بېلګې:**

★ د کورنۍ له غړو سره خوشحاله وخت تېرول.

★ د کورنۍ له غړو سره چکر وهل.

★ نن شپه کومې خبرې کول په کار دي چې د کورنۍ روحیه ښه او خوشالي وکړي.

★ ماشومانو ته لازمه پاملرنه او د هغو د سالمې بوختیا لپاره په عمل لاس پورې کول.

★ د اولاد د ښې روزنې لپاره د پیسو سپما.

**۶ ـ مالي موخې**

دا موخې په مالي وضعیت او د شتمنۍ په اړه ستاسې په ذهنیت پورې اړه لري، کله چې د مالي مسایلو په اړه فکر کوئ، څه څه مو په ذهن کې را ګرځي؟ کوم تغییرات باید رامنځته کړئ؟ شتمني باید څنګه پیدا کړئ؟ په کومو مسایلو باید پانګونه وکړئ؟

د مالي وضعیت د ښه کولو لپاره په را روانه میاشت یا کال کې کوم کارونه باید تر سره شي؟ کومه شتمنۍ چې همدا اوس په لاس کې لرئ پر څه یې باید بنده کړئ؟

مالي موخې د پیسو مدیریت او دغه شان د شتمني د جذب لپاره زمینه مساعدوي او ستاسې ذهنیت د شتمني د جذب لور ته وړي.

**د مالي موخو ځو بېلګې:**

★ هغه لګښتونه چې پر بې‌ځایه او بې‌ګټو مسایلو یې کوو، مدیریت کول او پرځای یې هغه څه اخیستل چې موږ سره د کاروبار په پراختیا کې مرسته کولای شي.

★ د ګټې پیسې بېرته په پانګونه لګول.

★ د عوایدو لپاره د سرچینو رامنځته کول.

★ د پیسو مدیریت او پانګونه.

**۷ ـ روغتیایي او ښکلاییزې موخې**

روغتیا او د اندامونو تناسب ستاسې د ورځینۍ انرژي منبع بلل کیږي، که روغتیا نه وي هېڅ هم نشته او که مو د بدن ښکلا ته پام و نه کړئ په نفس باور مو کمېږي.

ورزش، تفریح، ټولنیزې اړیکې، مطالعه او سفر کول مو ذهني او رواني روغتیا او ښکلا تضمینوي، اړینه ده چې د جسم، روح او فکر د ښکلا په اړه پام ولرو او د روغتیا اصولو ته پام وکړو.

د روغتیایي او ښکلاییزو موخو ځو نمونې :

★ د بدني ښکلا او د بدن د تناسب لپاره په جبم کې نوم لیکنه او دغه ورزش د یوکال لپاره منظم تعقیبول.

★ د هغه خوراکي توکو مصرف چې وجود ته ګټه کوي او له هغه خوراکونو ځان ساتل چې د ناروغیو لامل ګرځي.

★ په خوراکي رژیم کې د نوو خوراکونو اضافه کول.

★ له نشیي توکو، الکولو او نورو مخدره موادو ځان ساتل، یا د سګریټو او نصوارو پرېښودل.




# عمده‌ترین دست آوردهای ریاست محافظت اطفال و ریاست تنظیم و تأمینات اجتماعی در سال ۱۴۰۳هـ ش

**۱-** کمیتهٔ محافظت اطفال با ترکیب اعضای دایمی (اعم از ادارات دولتی و مؤسسات غیر دولتی) که در رابطه به اطفال کار و فعالیت دارند عملاً در ٣٤ ولایت و١٨٠ ولسوالی فعالیت دارد که کمیته‌های محافظت اطفال در هر ماه زیر نظر ریاست‌های کار و امور اجتماعی ولایات جلسات خویش را دایر و بر مشکلات اطفال غور نموده و راه‌های حل آن‌را جستجو می‌نمایند. که نشست ماهوار این کمیته در جریان سال روان ١٤٠٣ هـش به اشتراک اعضای دایمی اعم از ادارات دولتی و مؤسسات غیر دولتی که در رابطه به اطفال کار و فعالیت می‌کنند غرض رسیده‌گی به مشکلات اطفال در مرکز وزارت دایر گردیده است.

هدف از ایجاد کمیته‌ها در مرکز و ولایات عرضهٔ خدمات اجتماعی به تمام اطفال آسیب‌پذیز می‌باشد. کمیتهٔ محافظت اطفال در هر ماه یک بار پیرامون وضعیت اطفال در معرض خطر جلسات خویش را دایر و گزارش اجراآت شان را به مقام وزارت ارایه می‌دارند که تا حال مطابق به مصالح علیای طفل، رسیده‌گی به قضایای محافظت از اطفال، ترویج و آگاهی‌دهی از حقوق آن‌ها اقدامات صورت گرفته و جریان دارد.

**کمیته‌های محافظتی ریاست محافظت اطفال وظایف زیر را به عهده دارد**

۱- تطبیق استراتیژی ملی محافظت اطفال در معرض خطر.

۲- ایجاد هم‌آهنگی میان ارگان‌های دولتی و مؤسسات ملی و بین‌المللی که در رابطه به اطفال فعالیت دارند.

۳- سرعت بخشیدن به فعالیت‌کمیته‌های محافظت اطفال.

۴- راپوردهی در مورد قضایای اطفال و رجعت دهی آن به ادارات دولتی و مؤسسات بین‌المللی غرض اجراآت و دریافت راه‌های حل.

۵- تعقیب و پی‌گیری قضایای محافظتی اطفال و یک‌جا شدن آن‌ها به فامیل.

**۲-** ریاست محافظت اطفال در جریان سال مالی ۱٤۰۳ از طریق کمیته‌های محافظت اطفال به اساس استراتیژی ملی محافظت اطفال که این استراتیژی ۲۳ کتگوری اطفال در معرض خطر را شناسایی و به همکاری مؤسسات و نهادهای دولتی ذیربط مورد حمایت قرار داره که قرار زیر توضیح می‌گردد:

**۱-** اطفال کارگر روی سرک **۲-** اطفال معروض به کار های شاقه ( کار طفل در فابریکات و قالین بافی) **۳-** اطفال متخلف از قانون **٤-** اطفال محروم از مراقبت والدین **۵-** اطفال یتیم **٦-** اطفال بی‌سرپرست **۷-** اطفال که مورد خشونت قرار می‌گیرند **۸-** اطفال معروض به سوء استفاده جنسی **۹-** تجاوز جنسی علیه اطفال **۱۰-** اطفال گدا **۱۱-** اطفال قاچاق شده **۱۲-** اطفال اختطاف شده **۱۳-** اطفال عسکر **۱٤-** ازدواج اجباری و قبل از وقت اطفال **۱۵-** اطفال بی‌جاشده‌گان داخلی **۱٦-**اطفال مهاجر و عودت کننده **۱۷-** اطفال معتاد به مواد مخدر **۱۸-** اطفال فرار از منزل **۱۹-** تبعیض اطفال (اطفال اقلیت‌ها) **۲۰-** اطفال که از پروسهٔ آموزش باز مانده‌اند **۲۱-** اطفال معلول **۲۲-** اطفال مصاب به امراض روانی **۲۳-** اطفال معروض به مرض ایدز که به اساس گزارش‌های رسیده از کمیته‌های عملکرد محافظت اطفال از مرکز و ولایات در جریان سال ۱٤۰۳ جمعاً به تعداد ۸۱۱۸ قضیه مواصلت ورزیده که پس از رسیده‌گی راه‌حل مصئون را دریافت نموده اند که از جمله به‌تعداد ۷٦۰۰ پسر و به‌تعداد ۵۱۸ دختر می‌باشند که بعد از مطالعه درج دیتابیس گردیده است.

**۳-** ریاست محافظت اطفال در جریان سال مالی ۱٤۰۳ برای ۱۹٦۰۹ تن از اطفال و ۸٦۲ تن از والدین از طریق کمیته‌ها در سطح کشور برنامه‌های آگاهی‌دهی از حقوق طفل و خطرات ماین را تدویر نموده است.

**٤-** در بخش حمایت از اطفال آسیب پذیر به‌تعداد ۱۳ تفاهم‌نامه با مؤسسات ملی و بین المللی در جریان سال ۱٤۰۳ عقد گردیده و به‌تعداد ٤ مؤسسه به اساس سعی و تلاش ریاست محافظت اطفال به ارزش یک میلیون دالر امریکایی جلب توجه گردیده که تفاهم‌نامهٔ‌شان به‌زودی عقد می‌گردد.

**۵-** ایجاد تجارت‌های کوچک در هم‌آهنگی با ریاست محافظت اطفال از طریق مؤسسات همکار برای ۱۵۰ طفل واجد شرایط.

**٦-** برگزاری برنامه‌های آگاهی‌دهی از طریق مؤسسات در هم‌آهنگی با ریاست محافظت اطفال برای ۱۰۰۰۰ هزار تن از افراد جامعه.

**۷-** کمک‌های نقدی از طریق مؤسسات همکار در هم‌آهنگی با ریاست محافظت اطفال برای ۷۰۰۰ هزار طفل یتیم در سطح کشور صورت گرفته است.

**۸-** حمایت شبانه روزی به‌تعداد ۵۰۰ طفل از طریق مؤسسات همکار در هم‌آهنگی با ریاست محافظت اطفال صورت گرفته است.

۹- ارایهٔ خدمات آموزشی و روان‌درمانی برای ۸۰۰۰ طفل مهاجر و معروض به خطر از طریق مؤسسات همکار در هم‌آهنگی با ریاست محافظت اطفال صورت گرفته است.

**۱۰-** ایجاد ۲ مرکز حمایوی اطفال از طریق مؤسسات در هم‌آهنگی با ریاست محافظت اطفال در ولایات بدخشان و بلخ.

**۱۱-** توزیع مواد سوخت زمستانی و کمپل برای ۱۰۰۰ هزار خانوادهٔ یتیم به ارزش ۱۲۰۰۰ هزار افغانی از طریق مؤسسات با هم‌آهنگی ریاست محافظت اطفال صورت گرفته است.

**۱۲-** نظارت و کنترول از فعالیت‌های ۸ مؤسسهٔ ملی و بین‌المللی مطابق به متن تفاهمنامه از طریق این ریاست.

**۱۳-** حمایت مرحله‌وار به‌تعداد ۱۵٦٤ تن طفل در مراکز حمایوی بخش پسران و دختران مربوط ریاست محافظت اطفال و نگه‌داری آن‌ها تا دریافت و شناسایی خانواده‌های شان(اعاشه و اباته، تعلیم و تربیه، مراقبت‌های صحی و رسیده‌گی به قضیهٔ آن‌ها تا مراحل یک‌جاسازی که از طرف کمیته جمع‌آوری گداها و حوزه‌های امنیتی پولیس شهر کابل جهت حمایت به این ریاست معرفی می‌گردد صورت گرفته است.

**۱٤-** ارایهٔ خدمات خاص از قبیل شستن دست و روی اطفال، دادن غذای سه وقته به اطفال، حمام دادن و تبدیل نمودن لباس آن‌ها، بستن پمپرز و تبدیل آن در هر روز دو بار، دادن ادویهٔ لازم مطابق هدایت داکتر مؤظف، اصلاح موی و گرفتن ناخن اطفال و درست کردن جای خواب آن‌ها.

## ریاست تنظیم و تأمینات اجتماعی

از اول حمل تا پایان قوس سال ۱٤۰۳ هجری شمسی.

- به‌تعداد ۸۱۱۰ تن خانواده اطفال یتیم نیازمند و خانواده‌های نیازمند و بی‌بضاعت در نواحی مختلف شهر کابل در همکاری مالی مؤسسات همکار تحت نظارت مستقیم کارمندان این ریاست تشخیص و حمایت گردیده است.
- در سه ربع سال۱٤۰۳ تعداد ۱۹۰۸ تن اطفال در مرکز و تعداد ۲۳۵۷ تن اطفال در ولایات مجموعاً ٤۲٦۲ تن اطفال به فامیل و اقارب شان ادغام گردیده است.
- معرفی ۱۹ تن از معتادین به شفاخانهٔ هزار بستر تداوی معتادین مواد مخدر ابن سینا، شفاخانه تداوی معتادین چهارصدوپینجاه بستر جنگلک، مرکز تداوی معتادین مواد مخدر بیست وپنج بستر ولایتی ولایت غور، ادارهٔ تحصیلات عالی ولایت دایکندی به صحت عامه که از جمله ۹ تن آن‌ها کارمندان ادارت اماراتی می‌باشند.
- مصاحبه با ۳۵۰۰ تن معتادین صحت‌یاب شده داخل بستر مرکز حمایوی و تداوی معتادین مواد مخدر پنج‌هزار بستر آغوش، شفاخانه هزار بستر تداوی معتادین مواد مخدر ابن سینا، شفاخانه تداوی معتادین چهارصدو پنجاه بستر جنگلک و آمریت دوصد بستر معتادین کمپ امید.
- معرفی تعداد ۱۱۷۳ تن صحت‌یاب شده جهت فراگیر آموزش‌های فنی و حرفه‌ای مرکز پلچرخی.



# سوداګریزه تګلاره؛ د افغانستان اقتصادي پرمختګ او فرصتونه

محمد عیسی مبارز

**سریزه**

سوداګري د هر هېواد د اقتصادي پرمختګ او ثبات لپاره یوه اساسي برخه ګڼل کېږي. افغانستان، چې له اوږدمهاله جګړو او بې‌ثباتۍ سره مخ دی، په ځانګړې ډول سوداګریزو اړیکو پراختیا او داخلي تولیداتو ملاتړ له لارې کولای شي خپل اقتصاد پیاوړی کړي. د دې هېواد ستراتېژیک جغرافیایي موقعیت، د منځنۍ او سویلي آسیا ترمنځ د پل په توګه، افغانستان ته ځانګړي فرصتونه برابروي چې د سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره مهم رول ولوبوي.

**د سوداګرۍ حالت او ننګونې**

په افغانستان کې سوداګریز فعالیتونه د جګړو، نړیوالو بندیزونو او داخلي ستونزو له امله له ګڼو محدودیتونو سره مخ دي. که څه هم اسلامي امارت هڅه کړې چې د داخلي سوداګرۍ فعالیتونه جاري وساتي، خو نړیوال بندیزونه د هېواد په اقتصادي پراختیا جدي اغېز لري. د افغانستان سوداګریزه تګلاره اوس مهال د سیمې هېوادونو لکه پاکستان، چین، ایران او منځنۍ آسیا سره په اړیکو تمرکز کوي. دا اړیکې د افغانستان لپاره ستراتېژیک اهمیت لري، خو د نړیوالو بندیزونو او اړیکو نشتوالي له امله محدودې شوې دي.

افغانستان د کرنې او کانونو په برخه کې یو لړ صادرات لري چې له هغې جملې څخه زعفران، وچه مېوه (بادام، پسته، انګور)، مرمر، قالینې، او لاس‌صنایعو تولیدات دي. دغه محصولات په نړیوال بازار کې لوړ ارزښت لري، خو د کیفیت او بسته‌بندۍ اړوند ستونزو د صادراتو پراختیا محدوده کړې ده. د نړیوالو سوداګریزو معیارونو پوره کول او د بسته‌بندۍ معیارونو لوړول کولای شي د افغانستان صادراتي صنعت ته وده ورکړي.

**سوداګریزه زېربنا او قوانین**

په افغانستان کې د سوداګرۍ زېربناوې، لکه ټرانسپورټ، مخابرات او انرژي، کمزورې دي او دا چاره د سوداګرۍ په پرمختګ کې لوی خنډ ګڼل کېږي. د بانکي خدماتو او نړیوالو مالي اړیکو محدودیت هم د سوداګریزو فرصتونو پراختیا ته زیان رسولی دی.

سوداګریز قوانین د سوداګریزو فعالیتونو د تنظیم لپاره مهم رول لري. په افغانستان کې شرکتونه باید د اړوندو دولتي ادارو سره ثبت شي، او د سوداګریزې خونې له لارې د ثبت پروسه ترسره کېږي. همدارنګه، د مالیاتو او تعرفو سیستم هم باید ساده او شفاف شي، څو سوداګر وهڅول شي او د فساد مخه ونیول شي. د شرکتونو لپاره عایداتي مالیات شاوخوا ۲۰٪ ټاکل شوي، او د ارزښت زیاتوني مالیات هم ۲۰٪ دی. د قراردادونو قوانین باید د افغانستان د ملکي قانون په رڼا کې تنظیم شي، څو سوداګریزې لانجې په اسانه حل شي.

**د صادراتو او وارداتو قوانین**

د افغانستان د صادراتو او وارداتو قوانین د هېواد اقتصادي ودې او نړیوالو سوداګریزو اړیکو لپاره بنسټیز رول لري. هر هغه توکي چې افغانستان ته واردېږي یا له دې هېواد څخه صادرېږي، د ځانګړو ګمرکي مالیاتو تابع دي. تعرفې د توکو په ډول او ارزښت پورې اړه لري او د نړیوالو او سیمه‌ییزو معیارونو له مخې بدلېږي. همدارنګه، شرکتونه اړ دي چې د فعالیت لپاره له اړوندو دولتي ادارو څخه جوازونه او ځانګړې اجازې ترلاسه کړي. د کیفیت او سټنډردونو کنټرول اړوندو ادارو ته سپارل شوی دی، څو ډاډ ترلاسه شي چې وارد شوي او صادر شوي توکي د روغتیا او خوندیتوب له معیارونو سره سم دي.

**د نړیوالې سوداګرۍ رول**

نړیواله سوداګري په تېرو لسیزو کې د ټکنالوژۍ او ارتباطي زېربناوو په پرمختګ سره چټکه وده کړې ده. د سوداګرۍ نړیوال سازمان (WTO) په نړیواله کچه د سوداګرۍ د اصولو او مقرراتو په تنظیمولو کې مهم رول لوبوي. د دې سازمان غړي هېوادونه ژمن دي چې خپلې تعرفې راکمې کړي او بازارونه یو بل ته پرانیزي. په وروستیو کلونو کې، د الکترونیکي سوداګرۍ (E-Commerce) پرمختګ هم نړیوال بازارونو ته نوې لارې پرانیستې دي.

افغانستان د نړیوالې سوداګرۍ د چټکې ودې څخه د ګټې اخیستو لپاره فرصتونه لري، خو اړتیا ده چې د کورني تولیداتو کیفیت او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی زیات کړي. همدارنګه، د زېربناوو پیاوړتیا، لکه ټرانسپورټ او مخابراتو، د سوداګرۍ لپاره اساسي ګامونه دي.

**پایله**

په پای کې، افغانستان کولای شي د سوداګرۍ له لارې خپل اقتصاد پیاوړی کړي، خو د دې لپاره لازم اصلاحات او ملاتړ ته اړتیا ده. د اسلامي امارت له راتګ وروسته یو لړ اقدامات ترسره شوي، لکه د سرحدونو امنیت ټینګول او سوداګریزو اسانتیاوو رامنځته کول، خو لاهم لوی فرصتونه او ننګونې موجودې دي.

د سوداګرۍ قانوني چوکاټ باید پیاوړی شي، مالي قوانین ساده او شفاف شي او بهرني پانګوالو ته ډاډ ورکړل شي چې په افغانستان کې پانګونه خوندي ده. د نړیوالو اړیکو پراختیا او د زېربناوو پیاوړتیا کولای شي افغانستان ته د نړیوالو بازارونو دروازې پرانیزي. له دې ګامونو سره، افغانستان به وکولی شي خپلې سوداګریزې اړیکې پراخې کړي، د کورنیو تولیداتو ملاتړ وکړي او په نړیوالو بازارونو کې خپل موقعیت پیاوړی کړي.



# پانګه اچونه او د هغې ارزښت

عبدالباعث عادل

د دې لپاره چې وکولای شو، خپل ټولنیز ژوند کې مثبت بدلون راولو، بېکارې له منځه لاړ شي او له پرمختللې تکنالوژۍ څخه برخمن شو او لوړو معیاري روغتیايي خدماتو ته لاسرسی پیداکړو، د زده کړې کچه مو خورا په لوړ کیفیت وي، په هېواد کې غلا او اختطاف له‌منځه لاړشي او یو ښه امنیت ولرو، په یو صادراتي هېواد بدل شو، اقتصادي پراختیا ولرو، ناخالص داخلي تولیدات مو لوړ شي او په ټوله کې له نړۍ سره سیال شو؛ نو یواځینی فکتور چې افغانستان له دې نعمتونو څخه برخمن کوي، هغه پانګه اچونه ده.

شاید دغه لیکنه درته غیرمنطقي ښکاره شي، اما! لیکنه مو ولوسته دا فکتورونه تر ډېره بریده منطقي ښکاري.

**۱ـ د دولت د ملي بودجې په کچه کې ډېروالی**

د پانګونې په ډېرېدو سره د ډېرو خلکو د نوي کارونو او شرکتونو په جوړولو سره د شرکتونو او کاربارونو په شمېر کې ډېروالی راځي، دوی اړ دي چې د عوایدو څخه یې یوه خاصه سلنه دولت ته د مالیې په توګه ورکړي.

نو د دولت په بودیجه کې به ډېروالی راشي، چې یاد عواید به د هېواد په لویو او ورو بنسټیزو پروژو کې لکه: سړکونه، د کانونو په را ایستلو کې، بندونه، پوهنتونونه، پلچکونه، د انرژیو په تولید کې، عامه خدماتو زیاتیدلو او نورو مهمو مسایلو په تطبیق کې ورځنې کار واخیستل شي، یاده کړنه افغانستان د وروسته پاتې اقتصادي هېوادونو څخه بېلوي او په یو پیاوړي اقتصادي ځواک مو بدلولای شي.

**۲ـ د بېکارۍ له‌منځه وړل**

د پانګونې په ډېروالي سره کاري فرصتونه رامنځته کېږي. د نویو کاروبارونو، فابریکې، صنعت خونې، د خدماتي مرکزونو ډېروالی او فعالېدل چې اکثره خلک په کار بوخت کړي او د خلکو په عوایدو کې به ډېروالی راشي. د عوایدو د سلنې لوړېدو سره به د پیرولو قدرت ډېر شي او د هتیوالو توکي به وپلورل شي او د هېواد اقتصادي څرخ به په فعالیت پیل وکړي، بېکاري به په لویه کچه را ټیټه شي او د خلکو د ژوند په څرنګوالي کې به لوی بدلون راشي.

**۳ـ په ملي تولیداتو کې زیاتوالی**

د پانګونې او خدماتي چوپړتیاوو په زیاتېدو سره به تولیدات او خدمات ډېرېږي. د تولید په کچه کې زیاتوالی د بېلابېلو پرمختګونو سبب ګرځي. لکه : د هېواد دننه هېوادوالو ته د اړتیاوو وړتو کې پوره کول او د داخلي تولیداتو د زیاتوالی په صورت کې کولای شو بهرنیو هېوادونو ته صادرول، کوم چې د سوداګرۍ یا د تادیاتو بیلانس مثبت خواته بیایي او دا ښه زیری ده چې د هېواد نه به سرمایه نورو هېوادونو ته نه ځي، د وارداتو په کچه کې به کموالی راشي؛ برعکس پانګه به موږ خواته راځي او د خلکو ژوند او اقتصاد به ښه پرمختګ وکړي.

**٤ـ امنیتي وضعیت به ډېر ښه شي**

خلک په کار او چوپړتیاوو بوخت کېږي. په غلا او اختطاف کې به ډېر کموالی راشي. خلک ورځ تر بلې به د ورانکاریو څخه لاس واخلي او حتی تر دې چې له دولت سره به هم د امنیت برخه کې همکاري کوي.

**۵ـ سوداګرۍ او راکړې ورکړې د ډېرښت سبب ګرځي**

د کاروبارونو پیل کېدو سره اړینه ده چې خام مواد پیداکړو؛ نو په همدې اساس د نویو سرچینو په کشف سره به د اقتصادي تولیداتو ظرفیت، کمیت او کیفیت خورا لوړ شي.

د تولیداتو د نویو مېتودونو کارول او د کاري ځواک تخصص زیاتوالی به ، د اقتصادي ودې د لوړوالي لامل شي.

د پانګونې په ډېرېدو سره خلک د توکو او خدماتو په تولید کې ښکېل وي نو اقتصادي وده به په نور هم لوړېږي.

**٦ـ د نوې تکنالوژۍ کارونې سره د تقاضا زیاتوالی**

د پانګوالې په زیاتوالي سره به د نوې تکنالوژۍ کارونې ته تقاضا زیاته شي او د توکو او تولیداتو په مؤثریت کې لویه ونډه لري، اقتصادي وده رامنځته کېږي او صادراتو کې زیاتوالی راځي، هېواد ته د اسعارو راتګ زیاتېږي او د اړتیا وړ سرچینو ارزښت لوړېږي او په دې توګه به د هېواد د پرمختګ لپاره خورا بستیز او د تطبیق وړ پلانونه به جوړ شي او ګڼ شمېر پروژې به عملي شي او خلکو ته به کاري فرصتونه برابر شي.

نو آیا! کله چې یو هېواد پر مختلی اقتصاد ولري او پیسې یې په لاس کې وي تر ټولو لوړ کیفته زده کړې به ونلرو؟

معیاري روغتون او په لوړ معیار روغتیايي خدمات به ونلرو؟

په هېواد کې به مو بنسټیزې پروژې نه عملي کېږي؟ برېښنا، تېل او ګاز به ونلرو؟

نو راځئ! هېوادوال سرمایه ګذارۍ ته تشویق کړو او خپل پیسې په خپل هېواد کې، چې هره برخه کې تجربه لرو پانګه اچونه پکې وکړو، له متخصصینو او تجربه لرونکو کسانو د کاروبار د جوړولو د پلان نظریې واخلو، تر څو په افغانستان کې اقتصادي بحران له‌منځه لاړ شي.

# خبرپاڼه

## د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر د فدراتیفي روسیې له سفیر سره وکتل؛

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري، د خپل کار په دفتر کې د فدراتیفي روسیې سفیر دیمتري ژیرنوف او له هغه هېواد څخه د اقتصادي او تجارتي مشاور نیکولای ساژنوف په مشرۍ راغلي پلاوي سره وکتل.

کتنه کې الحاج ملا عبدالمنان عمري افغانستان ته د یاد پلاوي د سفر هرکلی وکړ او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د ښو کاري اړیکو څخه په یادونې سربېره وویل: د افغانستان اسلامي امارت د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د متقابل احترام او ملي ګټو په پام کې نیولو سره د نېک تعامل غوښتونکی دی او له نېکمرغه همدې اصل ته په کتو توانېدلی دی، چې د سیاسي اړیکو د ټینګښت سربېره په اقتصادي او تجارتي برخو کې هم له ګڼو هېوادونو سره ښې اړیکې ورغوي. الحاج ملا عبدالمنان عمري د خپلو خبرو په دوام زیاته کړه: افغانستان کې د بشپړ امنیت تأمین سره کورنیو او بهرنیو پانګه‌والو ته دا فرصت برابر شوی دی، چې هغوی دې دلته پانګه‌اچونه ترسره کړي.

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر په سیمه کې د فدراتیفي روسیې ارزښت او اهمیت ته په اشارې سره، هیله وښوده، چې په روسیه کې به افغاني کرنیزو محصولاتو ته مناسب بازار برابر شي او همدارنګه د دواړو هېوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې شته اړیکې لا پراخې او هم دې د یاد هېواد جمهوریتونو ته د افغان کاریګرو د اعزام پروسې په برخه کې دواړه لوري کاري-تخنیکي ګروپونه مشخص کړي، تر څو یو مشترک تفاهم ته ورسېږو.

د فدراتیفي روسیې سفیر دیمتري ژیرنوف خپلو خبرو کې څرګنده کړه چې د افغانستان او د روسیې ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې ښه پرمختګونه شوي او د سوداګرۍ کچه په لوړېدو ده او ژمن یو په دې برخه کې نه یوازې دا چې روسي پانګوال وهڅوو، تر څو دلته پانګه‌اچونه وکړي، بلکې افغان سوداګرو ته به هم مناسب سهولتونه رامنځته کوو. نوموړي همداراز د ټرانزیټ په برخه کې د همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

## د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر د سعودي عربستان له سفیر سره وکتل

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري نن د خپل کار په دفتر کې د سعودي عربستان د شاهي هېواد له سفیر فیصل بن طلق البقمي سره وکتل.

په دې کتنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د شته تعلقاتو او همکاریو د پیاوړتیا سربېره په سعودي عربستان هېواد کې د مېشتو افغان کاریګرو د ستونزو او ننګونو په هکله هر اړخیزې خبرې وشوې.

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري په خپلو خبرو کې، افغانستان سره په مختلفو برخو کې د سعودي عربستان شاهي هېواد له مرستو څخه په مننې سره په سعودي عربستان کې د مېشتو افغانانو له غوره کوربتوب څخه خوښي څرګنده کړه.

سرپرست وزیر همدارنګه زیاته کړه: افغانستان د سعودي پانګوالو لپاره مناسب چاپېریال دی، او همداراز د سعودي عربستان تجارتي مارکېټ د افغانستان کرنیزو محصولاتو لپاره غوره بازار دی.

ملا عبدالمنان عمري د سعودي عربستان له سفیر څخه وغوښتل، تر څو هغه هېواد د افغاني کرنیزو محصولاتو او مېوو په مخامخ صادراتو کې هڅه وکړي.

ورپسې د سعودي عربستان د شاهي هېواد سفیر ښاغلي فیصل بن طلق البقمي خپلو خبرو کې د دواړو دوستو هېوادونو ترمنځ دوستانه اړیکې تاریخي وبللې او زیاته یې کړه چې سعودي عربستان هوډمن دی، تر څو د افغانستان اسلامي امارت سره یادې اړیکې په اقتصادي، تجارتي، سیاسي ډګرونو کې لا زیاتې پیاوړې کړي.

په پای کې ښاغلي فیصل بن طلق البقمي په سعودي عربستان کې مېشتو افغان کاریګرو د ستونزو او ننګونو په حل کې هم د همکارۍ ډاډ ورکړ.

د یادولو وړ ده، چې د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر ملا عبدالمنان عمري تر دې وړاندې هم د قطر، روسیې او نورو هېوادونو له استازو سره په هغو هېوادونو کې د مېشتو افغان کاریګرو او سوداګرو پر ستونزو او غوښتنو خبرې کړې دي.

## د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر په کابل کې د ترکیې له سفیر سره وکتل

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملاعبدالمنان عمري نن خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د ترکیې له سفیر جنک اونال سره د کتنې پر مهال د اقتصادي او تجارتي همکاریو پر پراختیا او په افغانستان کې پانګه‌اچوونې او کاري فرصتونو د پنځونې لپاره پر شته فرصتونو خبرې وکړې.

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملاعبدالمنان عمري په دغه کتنه کې د ترکیې له سفیر څخه په افغانستان کې د شته پانګونې او فعالیت سربېره د زیاتې پانګه‌اچونې او همکاریو غوښتنه وکړه، ترڅو له دې لارې هېوادوالو ته د زیاتو کاري فرصتونو زمینه برابر شي.

په ورته وخت کې د ترکیې سفیر په دغه کتنه کې د افغانستان د ودې او پرمختګ لپاره د فرصتونو یادونه وکړه او له افغانستان سره د همکاریو پراختیا ته د ترکیې د لېوالتیا په هکله خبرې وکړې، چې له هغې ډلې څخه د ۷۷ ترکي شرکت د پانګو او فعالیتونو یادونه وکړه، چې په افغانستان کې په بېلابېلو بنسټیزو پروژو کې فعالیت لري.

## د ماشوم ساتنې شبکې ناسته ترسره شوه

د کار او ټولنیزو چارو وزارت او د اړوندو امارتي او غیر امارتي ادارو د استازو په حضور کې د ماشوم ساتنې شبکې ناسته ترسره او په کې د مختلفو مواردو په اړه بحثونه او پرېکړې وشوې.
په پیل کې د دې وزارت د ماشومانو د ساتنې ریاست رئیس مولوي سعدالدین مطمین مېلمنو ته د ښه راغلاست سربېره؛ د تېرې ناستې د پرېکړو د تعقیب په اړه معلومات شریک او هیله یې وښوده، چې ټول لوري دې د ماشومانو څخه د ساتنې، د ردمرزي ماشومانو ستونزو ته د رسیدگۍ او له کورنیو سره یې ادغام او هم د دوی د شاقه کارونو د مخنیوي په برخو کې دې رواني هڅې ګړندۍ کړي.
د ناستې ګډونوالو د دې ترڅنګ، چې په دې برخه کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت هڅې وستایلې، ژمنه یې درلوده، چې د ماشومانو ستونزو ته د رسېدو په موخه به په مشترک ډول اقدام کوي.
په پای کې د والدینو مکلفیتونو ته هم په اشارې سره، هیله څرګنده شوه چې دوی دې هم د خپلو ماشومانو د روزنې، تعلیم او تربیې په برخه کې خپله ونډه ادا کړي.

## زابل کې ۲۵۰ تنه ځوانان له فني او حرفوي زده‌کړو څخه فارغ شول

د زابل ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست په هڅو د شاجوی په ولسوالۍ کې له دربیم او وروستي پړاو څخه ۲۵۰ تنه ځوانان چې د مولدجوړونې، ګلدوزۍ او خیاطۍ په حرفو کې د عملي او نظري زده‌کړو وروسته فارغ، د ماهرو کاریگرو په توګه د کار بازار ته وړاندې او کاري وسایل پرې وویشل شول.
هغې غونډې ته، چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه د زابل ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست استازي، په خپلو خبرو کې د افغانستان د بیا ودانولو ملي مؤسسې څخه د مننې سربېره، له فارغ شویو ځوانانو څخه غوښتنه وکړه چې له کاري وسایلو او وخت څخه په پوره ډول ګټوره استفاده وکړي، ترڅو خپل وطن ته د خدمت جوګه شي او خپلې کورنۍ ته حلاله نفقه پیدا کړي.
همدارنګه نوموړي په خپلو خبرو کې له نورو مرستندویه بنسټونو او مؤسساتو څخه هم په دې ډګر کې د مرستو او همکاریو غوښتنه وکړه.
یادونې وړ ده، چې په تېرو دریو پړاوونو کې ټولټال ۷۲۰ تنه زده‌کوونکي د دې برنامې له لارې له فني او حرفوي زده‌کړو څخه فارغ او هره میاشت ورته د ۶۴۰۰ افغانیو په ارزښت مددمعاش هم ورکول کېده.

## کارآموزان حرفهٔ برق در پنجشیر، وارد مرحلهٔ عملی شدند

سی تن از کارآموزان حرفهٔ برق در مرکز آموزشهای فنی و حرفهای ریاست کار و امور اجتماعی پنجشیر، پس از به پایان رسانیدن دوره‌های نظری، وارد مرحلهٔ عملی آموزشهای خود شدند.
استاد عظیم الله شهید؛ رییس کار و امور اجتماعی پنجشیر گفت که این کارآموزان تحت برنامه‌های آموزشی منظم، ابتدا با اصول و مفاهیم برق در محیط‌های کلاسی آشنا شده و اکنون توانسته اند دانش نظری خود را در زمینه‌های عملی به کار گیرند.
رییس کار و امور اجتماعی پنجشیر خاطرنشان ساخت که این برنامهٔ آموزشی به هدف آموزش نیروی کار متخصص و افزایش توانایی‌های فنی جوانان پنجشیر روی دست گرفته شده‌است.
به گفتهٔ وی، این دورهها میتواند فرصت‌های شغلی بیشتری را برای فارغان فراهم کرده و در عین حال به توسعهٔ زیرساخت‌های برق در این ولایت کمک کند.
یکی از کارآموزان مرکز آموزشهای فنی و حرفهای پنجشیر گفت که ما بسیار خوشحالیم که توانسته‌ایم به مرحلهٔ عملی وارد شویم و این فرصت به ما کمک میکند تا مهارت‌های

## بلخ کې له فني او حرفوي زده‌کړو څخه د ۱۰۰ تنه ځوانانو فراغت

د بلخ ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست په هڅو ۱۰۰ تنه ځوانان د شپږو میاشتنیو فني او حرفوي زده‌کړو ترلاسه کولو وروسته فارغ او پر دوی د اړوندو حرفو کاري وسایل وویشل شول.
یادو ځوانانو چې د غالۍ اوبدلو، آشپزۍ او خیاطۍ په حرفو کې زده‌کړې کړې وې، تېره ورځ یې د فراغت مراسم ترسره او د دې ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست د مسؤلینو او د بشري پرمختیایي خدمتونو همکارۍ مؤسسې د استازو له لوري پرې تصدیق پاڼې او کاري وویشل شول او په راتلونکي کې ورته د لابریاوو هیله مندي وشوه.

## په پکتیکا، بلخ او تخار کې له ۱۱۲۲ تنه بېوزلو، زیانمنو او یتیمو ماشومانو سره د ژمنیو توکو مرسته وشوه

د پکتیکا، بلخ او تخار ولایتونو د کار او ټولنیزو چارو ریاستونو په هڅو او همغږۍ د یاد ولایاتو په مرکز او ولسوالیو کې له ۱۱۲۲ تنه زیانمنو، بېوزلو او یتیمو ماشومانو سره، د ژمنیو توکو مرسته وشوه.
په یادو ماشومانو کې ۵۰۲ تنه د پکتیکا، ۴۷۳ تنه د بلخ او ۱۴۷تنه د تخار اوسېدونکي وو او د بېلابېلو ټولنیزو او اقلیمي شرایطو او اړتیاوو پر اساس یې مرستې ترلاسه کړې.
په یادو مرستو کې کمپلې، جمپر، خولۍ، جاکټ، دستکش، جرابې، بوټان او نور توکي شامل وو.
په پای کې د کار او ټولنیزو چارو ولایتي ریاستونو له همکارو مؤسساتو څخه د مننې سربېره، له نورو مرستندویه بنسټونو او مؤسساتو څخه هم د مرستو او همکاریو غوښتنه وکړه.
د یادونې وړ ده، چې یاد توکي د سرف- افغانستان او بشري خیریه مؤسسو په مالي همکارۍ ووېشل شول.

## په معادنو کې د بوختو کاریګرو ژوند او د دوی حقوقو ته به پام وشي

سمنګانو ولایت ته د کار او ټولنیزو چارو وزارت استول شوي پلاوي د دې ولایت په معادنو کې د بوختو کاریګرو د ژوندانه، حقوقو او ورته د سهولتونو برابرېدو په موخه له مسؤلینو سره کتلي او هم یې دره صوف ولسوالۍ ته په خپل سفر کې د یادو کاریګرو څېنې ستونزې له نږدې وکتلې.

د یاد پلاوي د رئیس مولوي عبدالمتین مولوي‌زاده په وینا، لومړی یې په دې اړه د سمنګانو له والي داملا محمد شعیب رسالت سره د همغږۍ په ناسته کې د نومړي د همکارۍ او پاملرنې غوښتنه کړې، چې د سمنګانو والي له لوري ډاډ ورکړل شوی دی.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت استول شوي پلاوي، په همدې ترتیب د سمنګانو ولایت د معادنو او پترولیم له رئیس سره په کتنه کې ټینګار کړی، چې هڅه دې وشي، ترڅو په معادنو کې بوختو کاریګرو ته د ایمیني تخنیک د برابرېدو، د دوی حفظالصحې، د حقوقو د ورکړې او له ټولو مهمه د دوی روغتیا او په ټوله کې ژوندانه ته لازمه پاملرنه وشي، چې د نومړي له لوري په دې رابطه د څېنو پرمختګونو څخه په یادونې سره؛ یادو ستونزو ته د رسېدو په برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړل شوی دی.

ورپسې پلاوي دره صوف ولسوالۍ ته د خپل سفر په ترڅ کې د ډېرو سکرو له معادنو څخه له نږدې کتلي او هلته د په کار بوختو کاریګرو د احوال اخیستو سربېره یې، له هغوی سره څېنې لازمې او اړینې سپارښتنې هم شریکې کړې دي، ترڅو ورته پاملرنه وکړي او په دې سره راتلونکي کې د ناوړه پېښو مخنیوی شوی وي.

## په ننګرهار کې له ۳۳۰ تنه ماشومانو سره مرسته وشوه

د ننګرهار ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست له لوري د امام بخاري روزنتون له ۳۳۰ تنه یتیمو او بې‌سرپرسته ماشومانو سره د جامو او حفظ‌الصحې توکو مرسته وشوه.

یاده مرسته د ننګرهار ولایت د کار او ټولنیزو چارو د رئیس مولوي فریدالله حقاني او نورو مسؤلینو له لوري توزیع او له ماشومانو وغوښتل شول چې له وخت له او فرصت څخه په سالمې استفادې سره دې خپلو زده‌کړو ته لازمه پاملرنه وکړي.

## په ننګرهار کې ۱۰۰ تنه بېوزلو کسانو ته د کوچنیو کاروبارونو زمینه برابره شوه

ننګرهار ولایت دکار او ټولنیزو چارو ریاست په هڅو، په اچین ولسوالۍ کې ۱۰۰ تنه اړمنو او بېوزلو کسانو ته، چې وړاندې د یوې شفافې سروې له لارې انتخاب شوي وو د کوچنیو کاروبارونو د ملاتړ په خاطر د دوکاندارۍ، خیاطۍ، بوټ‌ګنډلو او د چرګانو د روزنې لپاره د ۲.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت کاري وسایل ووېشل شول.

هغې غونډې ته، چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه د ننګرهار ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست استازو له همکارې مؤسسې څخه د مننې سربېره له نورو مرستندویه بنسټونو او مؤسساتو څخه هم د مرستو او همکاریو غوښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې یاده مرسته د «ستاسو غږ» همکارې مؤسسې په مالي ملاتړ برابره شوې وه.

## د کار او ټولنیزو چارو وزارت په تېرو درېیو میاشتو کې شاوخوا ۳۳ زره د کار جوازونه وېشلي

د کار او ټولنیزو چارو وزارت توانېدلی، چې د روان ۱۴۰۳ هجري لمریز کال په درېیمه ربعه کې ۳۳۱۰۰ قطعې د کار جوازونه ووېشي او له دې لارې عواید را ټول کړي.

همدا راز د وزارت ارقام ښیي چې ۲۰۶۱۷ نارینه او ۸۵۰ تنه ښځینه په امارتي سکتور او ۸۲۲۳ تنه نارینه او ۱۵۸۶ ښځینه په خصوصي سکتور کې په دندو ګمارل شوي او همدارنګه ۱۹۲۰ بهرنیو وګړو هم د کار جوازونه ترلاسه کړي دي.

د یادولو ده، چې له دې ارقامو سره په ۱۴۰۳ هجري لمریز کال په درېیو ربعو کې د وېشل شویو کار جوازونو شمېر ۹۰۱۳۱ قطعو ته ورسېده. یاد وزارت په تېرو درېیو میاشتو کې شاوخوا ۳۳ زره د کار جوازونه وېشلي.

په دې توګه له دې ارقامو سره په ۱۴۰۳ هجري لمریز کال په درېیو ربعو کې د وېشل شویو کار جوازونو شمېر ۹۰۱۳۱ قطعو ته ورسېد.

## د داخلي تفتیش د رئیس په مشرۍ پلاوي، د جنوب‌ختیځو او جنوب‌لویدیځو ولایتي ریاستونو چارې وارزولې

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د داخلي تفتیش د رئیس ملا شرف‌الدین شرف په مشرۍ یو پلاوي، د جنوب‌ختیځو او جنوب‌لویدیځو ولایتونو د کار او ټولنیزو چارو ریاستونو د چارو د ارزونې په موخه سفر پیل کړ.

د داخلي تفتیش رئیس ملا شرف الدین شرف او ورسره مل پلاوي ، د میدان وردګ، غزني، زابل، ارزګان، کندهار، لوګر، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایت څخه د کار او ټولنیزو چارو ریاست له ورځنیو کاري فعالیتونو او خدماتو، فني او حرفوي زده‌کړو د مرکز او روزنتون څخه لیدنه وکړه او هلته یې د مېشتو یتیمو او بې‌سرپرسته ماشومانو جاج واخیست او د غوره خدماتو د وړاندې کولو په موخه یې ولایتي کارکوونکو ته لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.

هېره دې نه وي چې د دې سفر په ترڅ کې به د وزارت استول شوی پلاوی د نورو ولایتي ریاستونو چارې هم له نږدې وارزوي او د هغوی د خدماتو او فعالیتونو، فني او حرفوي زده‌کړو له مرکزونو او روزنتونونو کې د زده‌کړو د بهیر څرنګوالي څخه به لیدنه او څارنه کوي او د اړتیا په صورت کې به د محلي ادارو له مسؤلینو سره ناستې ترسره او د کار او ټولنیزو چارو ولایتي ریاستونو څخه د ملاتړ په موخه به د هغوی پاملرنه جلب کوي.

## د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر د کابل ولایت د مختلفو ډلو له استازو سره وکتل

د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملاعبدالمنان عمري نن د کابل ولایت د ۲۲ ګونو ناحیو او ۱۴ ولسوالیو علمای کرامو، متنفذینو او د ځوانانو له استازو سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.
په پیل کې د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري راغلو مېلمنو ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل: د ناستې اصلي موخه یو د بل پېژندل او شته ستونزو او ننګونو ته په ګډه توګه د حللارو لټول دي، ځکه د ولس له همکاریو پرته مسؤلین نه شي کولای ټولې ستونزې حل کړي، ولس باید د ټولنې ستونزې د اړوندو ادارو مخې ته کېږدي او مسؤلین خپل محدودیتونه له ولس سره شریک کړي، تر څو متقابل تفاهم رامنځته شي.
الحاج ملاعبدالمنان عمري زیاته کړه: د ولس زړونه هغه وخت لاسته‌راوړلی شو، چې د هغوی ستونزې تشخیص او ورته په دقیقه او هر اړخیزه توګه د حللارې پیدا کړو؛ ځکه د دوی د ستونزو له حل پرته د خلکو ملاتړ تر لاسه کول ناشونی دي، یوازې د ستونزو په حل سره یې کولای شو چې د ولس د مایوسۍ مخنیوی وکړو.
د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر وویل: بهرنیو هېوادونو ته تګ د حللاره نه ده، ځکه د هر هېوادوال عزت یوازې په خپل هېواد کې خوندي دی، موږ هڅه کوو، چې بهر ته په قانوني او عزتمن ډول د افغان ځوانانو د لېږد زمینه برابره کړو.
په همدې توګه غونډې ته د قره‌باغ ولسوالۍ قومي مشر مولوي فاضل فضلي وویل: د اوبو د مدیریت او مهار په څېر د لویو پروژو په پلي کېدو سره کولای شو چې د بېکارۍ ستونزه تر ډېره بریده راښکته کړو.
د کابل ولایت د ۱۳مې ناحیې استازي محمداسحق صفدري، افغاني ټولنه یوه زراعتي ټولنه وبلله او د زراعت سکتور ته لومړیتوب یې د بېکارۍ ستونزې په کمښت کې اغېزناک یاد کړ.
ورته مهال د ۲۲ ناحیو د وکیلانو د شورا عمومي رئیس احمدشاه‌الکوزي هم غونډې ته وویل: د فني او حرفوي زده‌کړو پراختیا او بهر ته د افغان کاریګرو قانوني لېږد د بېکارۍ کچه راټیټولی شي.
په پای کې د کابل ولایت د نورو پاتې ناحیو او ولسوالیو استازو بېکارۍ یې د هېواد له لویو ستونزو وګڼله او په هېواد کې د زراعت مېکانیزه کول، زراعتي او صنعتي بانکونو جوړول، د بېکارۍ عواملو او کاري فرصتونو پنځولو لپاره د علمي سیمینارونو دایرول، د زراعتي محصولاتو کښت، پروسس او سوداګر ته بهتره زمینه برابرول، ولسوالیو ته د فني او حرفوي زده‌کړو د بهیر غځول، صنعتکارانو او پانګه‌اچوونکو ته د اسانتیاوو برابرول یې په هېواد کې د بېکارۍ کچې په کمښت کې اړین وبلل.

## د ټولنیزو چارو معین خپلو کارکوونکو ته ور وپېژندل شو

د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړونده د ټولنیزو چارو نوی معین مولوي عبیدالله امین‌زاده نن خپلو کارکوونکو او مأمورینو ته ور وپېژندل شو.
هغې غونډې ته چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه، د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا عبدالمنان عمري وویل: په هېواد کې تر ټولو مستحق او زیان‌من قشر د لاسنیوي او هغوی ته د غوره خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د ټولنیزو چارو معین مولوي عبیدالله امین‌زاده تقرر او راتګ ته ښه راغلاست وایم.
الحاج ملا عبدالمنان عمري زیاته کړه: د کار او ټولنیزو چارو وزارت اصلي مسئولیت؛ محتاجو، اړمنو ماشومانو، مېرمنو او نورو زیان‌منو اقشارو ننګونو او ستونزو ته رسېدنه ده او په دې ډګر کې د لوی څښتن تعالی له دربار څخه مولوي عبیدالله امین‌زاده ته د غوره خدمت توفیق غواړم.
وروسته د چارو اداري لوی ریاست د امارتي چارو د انسجام معاون مولوي سیف‌الدین تائب؛ د اسلام سپیڅلې شریعت مطابق؛ په ټولنه کې د یتیمو، بې‌وزله او بې‌سرپرسته ماشومانو او نورو اقشارو ته د خدمت پر اهمیت پر بیان سربېره د مولوي عبیدالله امین‌زاده د تقرر په اړه د افغانستان اسلامي امارت امیرالمؤمنین مولوي هبة‌الله اخندازه حفظه‌الله حکم هم قرائت کړ.
د ټولنیزو چارو معین مولوي عبیدالله امین‌زاده هم په خپلو خبرو کې د هېواد زیان‌منو، بې‌وزلو او مستحقو اقشارو ته خدمت عبادت وباله او د هر ډول خدماتو وړاندې کولو ژمنه یې وکړه

## توزیع پوشاک زمستانی برای ۱۰۰ تن از شاگردان پرورشگاه در فاریاب

به اساس تلاش و همآهنگی ریاست کار و امور اجتماعی ولایت فاریاب، برای ۱۰۰ تن از پسران و دختران در پرورش‌گاه آن ولایت پوشاک زمستانی که در برگیرندۀ جمپر، بوت، کلاه، دستکش، جراب و دستمال گردن میباشد، به همکاری دفتر «افغان ریلیف» توزیع شد.
ریاست کار و امور اجتماعی فاریاب با سپاسگزاری از همکاریهای دفتر یادشده، از دیگر نهادهای امداد رسان نیز خواست تا با کودکان یتیم و خانواده‌های نیازمند در فصل سرما کمک نمایند.



# د لغمان شاهي کانال په جوړولو او ګټه اخیستنه کې د کاري فرصتونو او ټولنیزې – اقتصادي پراختیا تحلیل

محمدنصیر وحدت، پوهنمل، ماسټر، استاد
میرویس صدیقمل، پوهنمل، ماسټر، استاد

**لنډیز**

کار او د کاري فرصتونو رامنځته کول په ټولنه کې د اوسېدونکو حق دی او اوسمهال د ۱.۱.۱ هڅه کوي چې لازم فرصتونه او ظرفیتونه رامنځته کړي. افغانستان د مخ پر ودې هېوادونو له ډلې دی، چې د کار کولو لپاره د بشري قوې لوړ پوټانشیل لري، خو د کاري فرصتونو د نشتون له امله له ناورین سره مخ دی. د دې ترڅنګ په هېواد کې د خوړو کارونې وړ پرېمانه اوبو سرچینې، د کرنې وړ پراخه ځمکو مدیریت کولی شي کاري فرصتونو رامنځته کړي او له بلې خوا د ټولنې غذایي مصئونیت او د کورني عاید د لوړوالی تضمین کولای شي. په دغه څېړنه کې په لغمان ولایت کې د شاهي کانال د پروژې په تطبیق سره د مستقیمو او غیرمستقیمو کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او ټولنیزې – اقتصادي ودې پوټانشیل سپړل شوی دی، د دې ترڅنګ د پروژې د کاري فرصتونو له امله القایي اغېزمن اټکل شوي دي. د څېړنې تحلیل د هغو ارقامو پر بنسټ د ساده حسابي طریقو په مرسته تر سره شوی چې د شاهي کانال د بېلابېلو برخو اړوند له اړوندو اداراتو څخه تر لاسه شوي دي. د څېړنې پایلې ښیي چې د شاهي کانال د پروژې تطبیق به شاوخوا ۸۵۰۰۰ منځ مهالي او دوامداره مستقیم او غیر مستقیم کاري فرصتونو رامنځته کړي چې په ټوله کې به د ټولنې په ټولنیزه – اقتصادي پراختیا او د بېکارۍ د کچې په کموالي کې اغېزمن ثابت شي.

**کلیدي اصطلاحګانې:** شاهي کانال، کار،کاري فرصتونه، غذایي مصئونیت، اقتصادي وده، سلطان غازي بابا

**۱ـ سریزه**

کار د هرې ټولنې د پرمختګ اساسي رکن شمېرل کېږي. د اوسنۍ نړۍ ټولې اسانتیاوې او د ټکنالوجۍ هر پرمختګ د کار کولو پایله ده (Wim Naudé, ۲۰۰۸). په ټولنه کې او په عامه توګه کار، د مېز ترشا د دفتري کارونو څخه بیا تر کسبي کارونو لکه بزګرۍ، ترکاڼۍ، آهنګرۍ، هټیوالۍ، فزیکي کارګرۍ، همدارنګه د مغزي فعالیتونو تر سره کول، تدریس، مطالعه، زده کړه او نورو ټولو ته کار ویلی شو. د ټولنې افراد مسئولیت لري چې د ټولنې د پرمختګ لپاره کار او خدمت وکړي، نوموړي فعالیتونه کېدای شي د نظام په چوکاټ کې، په خصوصي سکتور کې یا هم په شخصي لګښت د ځان لپاره د کاري فرصت د رامنځته کولو په بڼه وي(de Jorge Moreno & de la Victoria, ۲۰۰۸). د دې سربېره، په هېوادونو کې نظامونه دنده لري چې کاري فرصتونه رامنځته کړي، اړینه نه ده چې هر کاري فرصت دې په نظام کې دننه رامنځته شي، بلکې نظام مسؤل دی چې په خپل قلمرو کې د خصوصي پانګه اچونې لپاره اسانتیاوې برابرې کړي او د پانګوالو د سر او مال د مصئونیت تضمین کړی.

**د څېړنې ستونزه:** افغانستان د نړۍ په کچه د مخ پر ودې هېوادونو په ډله کې دی، چې له یوې خوا د کار د تر سره کولو لپاره قوي بشري پوټانشیل لري، خو د کاري فرصتونو د کمښت له یو لوی ناورین سره مخ دی. په ټوله نړۍ کې د کاري فرصتونو د رامنځته کولو یوه لویه او اساسي سرچینه د پرمختیایي پروژو پلي کول دي. همدا علت دی، چې د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د خپل ولس او وګړو د ښېرازۍ او هغوی ته د دوامداره کاري فرصتونو د رامنځته کولو په برخه کې د خپل مالي ځواک سره په مطابقت لویې بنسټیزې پرمختیایي پروژې طرح کړي، د هغو لپاره پلانونه جوړ کړي او بالاخره نوموړې پروژې پلې کړي(de Jorge Moreno & de la Victoria, ۲۰۰۸; Stasiak-Betlejewska & Potkány, ۲۰۱۵). په پایله کې به یې له یو لوري خپل بشري ځواک د هېواد په آبادۍ کې مستقیماً په کار ګمارلی وي او له بلې خوا به د پردیو له مجبوریتونو څخه خلاص، د اقتصاد له پلوه پر ځان بسیا او په خپلو پښو ولاړ هېواد د رامنځته کولو هڅه کړې وي او د خپل ولس لپاره به د هوسا، ډاډمن او د عزت ژوند بستر غوړولی وي.

**د څېړنې بنسټیزه پوښتنه:** په لغمان ولایت کې به د شاهي کانال د جوړېدو او ګټه اخیستنې پر مهال څومره کاري فرصتونه رامنځته شي؟ په ټولنیزه – اقتصادي پراختیا کې به څه ونډه ولري؟

**د څېړنې فرعي پوښتنې**

د شاهي کانال د جوړېدو پر مهال به څومره شمېر منځ مهالي مستقیم او

غیر مستقیم کاري فرصتونه رامنځته شي؟

د شاهي کانال څخه د ګټه اخیستنې پر مهال د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ ریاست د کرنیزې اقتصادي طرحې پر بنسټ به د کرنې او مالدارۍ په برخو کې څومره شمېر مستقیم او غیرمستقیم کاري فرصتونه رامنځته شي؟

د شاهي کانال د جوړېدو او ګټه اخیستنې پر مهال به د کانال ونډه په القايي اغېزو او ټولنیزه – اقتصادي وده کې څومره وي؟

**۲ـ د موضوع شالید**

**د لغمان ولایت د شاهي کانال پېژندنه:**

لغمان د افغانستان د ختیځو ولایتونو له ډلې دی چې ختیځ ته یې کنړ، لویدیځ ته یې کابل، شمال لویدیځ ته یې کاپیسا او جنوب ته یې د ننګرهار ولایت پروت دی. لغمان ۳۹۷۸ کیلومتره مربع مساحت لري چې شاوخوا ۵۲۰۰۰۰ پنځه لکه او شل زره نفوس یې د قرغه اي، الیشنګ، الینګار، دولت شاه او بادپښ په پینځو ولسوالیو او مرکز مهترلام کې مېشت دی. اوسمهال د نوموړي ولایت یواځې ۴.۱۱۷٪ ځمکه د کرلو وړ ده چې ۱٦۳۷٦.۴ هکتاره کېږي، له یادې کرنیزې ځمکې څخه ۱۳٦۵۰ هکتاره آبي او ۲۷۲٦.۴ هکتاره یې للمي ده، خو د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د سروې پر بنسټ په یاد ولایت کې ۲۱۸۲۰ هکتاره ځمکه د کرنیزې ځمکې په توګه ثبت شوې ده. لغمان چې اکثریت سلنه وګړي یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، عمده نباتات یې غنم، وریجې، ترکارۍ او ستروسو مېوې دي او د مالدارۍ په برخه کې د پسونو او وزو روزنه پکې زیاته ده.

شاهي کانال چې د الینګار ولسوالۍ له سندروا څخه پیل کېږي، ټولټال نږدې ۷۰ کیلومتره اوږدوالی لري چې شاوخوا د ۲۰۰۰۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو لپاره په پام کې نیول شوی وه، خو په دا وروستیو څو کلونو کې د لغمان سلطان غازي بابا او د بابا صاحب ډاک کې یوه اندازه ځمکه چې د کانال د کرنیزې ساحې په توګه په پام کې نیول شوې وې د ښاروالۍ له لوري د هستوګنیزو نمرو په ډول پلان شوې او وېشل شوې دي، چې اوسمهال د کانال د کرنې لپاره څه باندې ۱۴۰۰۰ هکتاره ځمکه پاتې ده.


له هرې پانګه اچونې، فابریکې، تولیدي سیستم او ساختماني پروژې څخه د ټولنې وګړي په دریو ډوله د کاري فرصت په توګه ګټه پورته کوي:

**۱- مستقیم کاري فرصتونه:** له هغو کاري فرصتونو څخه عبارت دي چې وګړي مستقیماً د نویو فعالیتونو د ترسره کېدو په موخه په تولیدي سیستم یا پروژه کې په دنده ګمارل کېږي.

**۲- غیرمستقیم کاري فرصتونه:** له هغو کاري فرصتونو څخه عبارت دي چې د نویو فعالیتونو د ترسره کېدو لپاره د آسانتیاوو برابرولو او ملاتړ په موخه په قراردادي شرکتونو کې په دندو ګمارل کېږي.

**۳- القايي اغېزمن Induced impact:** له هغو شمېر څخه عبارت دی چې د نویو کاري ګمارنو (مستقیم او غیرمستقیم) په واسطه ملاتړ کېږي.

د تولیدي سیستم یا پروژې په واسطه د کاري فرصتونو بېلابېل ډولونه په لاندې شکل کې په واضح ډول ښودل شوي دي.




**اـ د کانال د جوړولو ساختماني برخه**

دا چې شاهي کانال د هېواد په کچه یوه له لویو پروژو څخه ده او دا ښکاره ده، چې د اوبو لګولو پروژو په تطبیق سره که له یوې خوا غذايي مصئونیت رامنځته کېږي، له بلې خوا د کار په رامنځته کولو، د عاید په زیاتوالي او د ټولنې په اقتصادي وده کې پراخه اغېز لري (Kassie & Alemu, ۲۰۲۱; Wondimagegnhu & Bogale, ۲۰۲۰). د کانال د کېدنې د حجم په پام کې نیولو سره د کانال د جوړولو موده ۹۰۰ ورځې محاسبه شوې ده، چې په یاده موده کې به لس ایکسکواټورونه کېدنه کوي او تر څنګ به یې د کانال د لاینګ او پخولو کارونه هم په جریان کې وي.

جدول ۱ـ د کانال جوړونې پر مهال د رامنځته شویو کاري فرصتونو محاسبه

| شمېره | د کار ډول | د کار حجم (مترمکعب) | د کار موده (ورځې) | مستقیم کاري فرصتونه (نفر) | غیرمستقیم کاري فرصتونه (نفر) | ټول کاري فرصتونه (نفر) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کېندنه | ۲۱٦۱۲۵۰ | ۹۰۰ | ۴۵۰۰۰ | ٦۷۵۰۰ | ۱۱۲۵۰۰ |
| ۲ | کانال استر کول | ۱۵۹۹۰۰ | ۹۰۰ | ۱۰۸۰۰۰ | ۱٦۲۰۰۰ | ۲۷۰۰۰۰ |

**II- د کانال کرنیزه او اقتصادي برخه**

د کانال تر جوړېدو او ګټه اخیستنې ته تر سپارل کېدو وروسته د کاري فرصتونو یوه دوامداره لړۍ پیل کېږي چې د سیمې د خلکو د ژوند کچې په لوړېدو او د دوی په ټولنیز اقتصاد به اغېزه ولري (Kumbhare & Sen, ۲۰۰۸). دا برخه د کانال د ساختماني چارو تر بشپړېدو وروسته پیلېږي، هغه مهال چې د کانال تر اوبه لګولو لاندې ساحه د کر کېلې لپاره جوړ او د روزنې لپاره یې خلک و ګمارل شي. په دې څېرنه کې د شاهي کانال د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو دا برخه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست د هغه احتمالي کرنیز پلان پر بنسټ تر سره شوې ده چې د شاهي کانال لپاره یې ترتیب کړی دی. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د کرنیزې طرحې مطابق کرنیزه ساحه په لاندې ترتیب د کرکیلې لپاره ځانګړې شوې ده.

- په شاوخوا ۸۰۰ هکتاره ځمکه کې د ببرې او پلوسې ځنګلونو جوړول چې د شاتو د مچیو د روزنې او شاتو د تولید لپاره به اسانتیاوې رامنځته کړي.
- په ۵۵۰۰ هکتار ځمکه کې د ستروسو لکه د مالټو، نارنجو، کینو، لیمو او تورنجو، شفتالو، بادامو، آلوچو، املوکو، انارو، ناکو او نورو مېوه لرونکو باغونو جوړول.
- په ۲۰۰۰ هکتاره ځمکه کې د ترکاریو کرل
- په ۴۰۰۰ هکتاره ځمکه کې غلې دانې لکه غنم، وریجې، جوار او نورو حبوباتو کرل
- نږدې په ۵۰۰ هکتاره ځمکه کې د پستې ځنګلونه جوړول
- د ۲۰۰۰ هکتاره ځمکې د کرنې لپاره اصلاح کول چې اوسمهال د کافي اوبو د نشتوالي له امله یو فصل کرل کېږي د کانال په جوړېدو سره به دوه فصلونه کرل کېږي.

د پورته ارقامو پر بنسټ د کرنې په برخه کې رامنځته شوي کاري فرصتونه او اقتصادي تحلیلونه په لاندې ډول تر سره شوی دی:

**د ځنګلونو جوړولو او د کاري فرصتونو اقتصادي تحلیل**

**الف- د ببرې ځنګل:** په ۶۰۰ هکتاره ځمکه کې به د ببرې ځنګل جوړ شي. په یوه هکتار ځمکه کې به ۲۸۰ نیالګي وکرل شي، چې په مجموعي ډول به ۱۶۸۰۰۰ نیالګي وي. د ببرې یاد نیالګي کولای شي چې د ۳۰۰۰۰ صندوقه د شاتو مچیو خواړه برابر کړي. په یو موسم کې له یو صندوق څخه ۱۰ کیلوګرامه شات لاسته راځي، چې ټولټال ۳۰۰۰۰۰ کیلوګرامه شات کېږي، که چېرې د یو کیلوګرام شاتو نرخ ۷۰۰ افغانۍ وي؛ نو د شاتو عاید ۲۱۰۰۰۰۰۰۰ (دوه سوه لس میلیونه) افغانۍ کېږي. د شاتو د مچیو په روزنه کې د هر ۱۰۰ صندوقونو د رزونې لپاره ۳ نفره ګمارل کېږي، چې پر دې بنسټ ۹۰۰ کسانو لپاره په دایمي ډول کاري زمینه برابربېږي، په همدې ډول د ۲۰ عمده او ۱۰۰ پرچون پلورنکو لپاره کاري فرصتونه رامنځته کېږي چې د بېکارۍ د کچې په راټیټولو کې مهمه لاسته راوړنه ده.

**ب- د پلوسې ځنګل:** په ۲۰۰ هکتاره ځمکه کې د پلوسې ځنګل جوړول پلان شوي دي، چې ټولټال به ۱۰۰۰۰۰ د پلوسې نیالګي وکرل شي. د پلوسې یاد ځنګل به ۱۰۰۰۰ صندوقه مچیو ته خواړه برابر کړي چې په یو موسم کې به ۱۰۰۰۰۰ کیلوګرامه شات تولید کړي چې ۷۰۰۰۰۰۰۰ (شل میلیونه) افغانۍ عاید به ترې په لاس راشي. د مچیو د روزنې لپاره به ۶۰۰ کسان و ګمارل شي او ترڅنګ به یې ۵ عمده پلورونکو او ۲۰ پرچون پلورونکو ته د کار زمینه برابره شي.

**د بېلابېلو مېوه لرونکو باغونو جوړول**

جدول ۲- د بېلابېلو مېوه لرونکو باغونو د محصولاتو مالي او د کاري فرصتونو محاسبه

| شمېره | د نباتو ډولونه | د کرنې ساحه (هکتار) | ټول حاصل (کیلوګرام) | مجموعي قېمت (افغانۍ) | مستقیم کاري فرصتونه (نفر) | غیرمستقیم کاري فرصتونه (نفر) | مجموعي کاري فرصتونه (نفر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ستروس (لېمو او مالټې) | ۳۰۰۰ | ۷۴۷۰۰۰۰۰ | ۵۲۲۹۰۰۰۰۰۰ | ۶۰۰۰ | ۱۲۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ |
| ۲ | شفتالو | ۵۰۰ | ۸۲۵۰۰۰۰ | ۴۱۲۵۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۳۰۰۰ |
| ۳ | بادام | ۳۰۰ | ۲۴۷۵۰۰۰ | ۹۹۰۰۰۰۰۰۰ | ۶۰۰ | ۱۲۰۰ | ۱۸۰۰ |
| ۴ | آلوچې | ۲۰۰ | ۳۹۶۰۰۰۰ | ۱۵۸۴۰۰۰۰۰ | ۴۰۰ | ۸۰۰ | ۱۲۰۰ |
| ۵ | سره املوک | ۳۰۰ | ۱۴۸۵۰۰۰۰ | ۲۲۲۷۵۰۰۰۰ | ۶۰۰ | ۱۲۰۰ | ۱۸۰۰ |
| ۶ | انار | ۶۰۰ | ۲۲۴۱۰۰۰۰ | ۶۷۲۳۰۰۰۰۰ | ۱۲۰۰ | ۲۴۰۰ | ۳۶۰۰ |
| ۷ | ناک | ۱۰۰ | ۲۶۴۰۰۰۰ | ۱۳۲۰۰۰۰۰۰ | ۲۰۰ | ۴۰۰ | ۶۰۰ |
| ۸ | پیسته | ۵۰۰ | ۵۵۰۰۰۰۰ | ۲۷۵۰۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۳۰۰۰ |
| | مجموع | ۵۵۰۰ | ۱۳۴۷۸۵۰۰۰ | ۱۰۵۶۶۹۵۰۰۰۰ | ۱۱۰۰۰ | ۲۲۰۰۰ | ۳۳۰۰۰ |

**د سبزیجاتو کرنه**

جدول ۳- د سبزیجاتو د کرنې د عاید مالي او د کاري فرصتونو محاسبه

| شمېره | د نبات ډول | د کرنې ساحه (هکتار) | دیو هکتار عاید (افغانۍ) | مجموعي عاید (افغانۍ) | مستقیم کاري فرصتونه (نفر) | غیرمستقیم کاري فرصتونه (نفر) | مجموعي کاري فرصتونه (نفر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سبزیجات | ۲۰۰۰ | ۳۰۰۰۰۰ | ۶۰۰۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۳۰۰۰ |

**د غله‌جاتو کرنه**

جدول ۴ـ د حبوباتو د کرنې د عاید مالي او د کاري فرصتونو محاسبه

| شمېره | د نباتاتو ډولونه | د کرنې ساحه (هکتار) | د یو هکتار حاصل (کیلوګرام) | د یو هکتار عاید (افغاني) | مجموعي عاید (افغاني) | مستقیم کاري فرصتونه (نفر) | غیرمستقیم کاري فرصتونه (نفر) | مجموعي کاري فرصتونه (نفر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حبوبات | ۴۰۰۰ | ۲۴۵۰ | ۷۳۵۰۰ | ۲۹۴۰۰۰۰۰۰ | ۸۰۰۰ | ۱۶۰۰۰ | ۲۴۰۰۰ |

**د یو فصله ځمکې تبدیل په دوه او درې فصله**


جدول ۵ ـ له یو فصله څخه دوه فصله ځمکو ته د محصولاتو د مالي او کاري فرصتونو محاسبه

| شمېره | د نباتاتو ډولونه | کرنې ساحه (هکتار) | د یو هکتار حاصل (کیلوګرام) | د یو هکتار عاید (افغانۍ) | مجموعي عاید (افغانۍ) | مستقیم کاري فرصتونه (نفر) | غیرمستقیم کاري فرصتونه (نفر) | مجموعي کاري فرصتونه (نفر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سبزیجات | ۱۰۰۰ | - | ۳۰۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ | ۱۰۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ |
| ۲ | جوار | ۱۰۰۰ | ۱۷۵۰ | ۳۱۵۰۰ | ۳۱۵۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۴۰۰۰ | ۶۰۰۰ |

**د مالدارۍ وده**

د شاهي کانال په جوړېدو سره به د مالدارۍ برخه هم وده وکړي، د مالدارانو لپاره به د کار ساحه پراخه شي، چې د لبنیاتو د تولید او پروسس په برخه کې د پام وړ زیاتوالی راشي. نوموړې ټولې لاسته راوړنې د ټولنیزې اقتصادي پیاوړتیا سبب کېږي. اوسمهال د شاهي کانال په لاره د الینګار له کله ګوش سیمې څخه بیا د باباصاحب تر دښتې پورې شاوخوا ۶۵۰۰۰ کوچني مالونه چې پسونه او وزې پکې شاملې دي، شتون لري چې د ۲۰۰۰ مالدارانو له خوا یې ساتنه کېږي. د شاهي کانال په جوړېدو او د ځنګلونو په آبادۍ سره به څرځایونه پراخه شي او مالونو ته به د څښاک اوبو آسانتیاوې برابرې شي چې په پایله کې به هر کال د څارویو په کچه کې ۳۰٪ سلنه چې ۱۹۵۰۰ پسونه او وزې کېږي ډېروالی راشي. د مالدارۍ په ډېروالي سره به په کال کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول ۱۷۵۵ کسانو ته د کار زمینه برابره شي.


د پروژې په تطبیق سره به ګڼ شمېر بېکاره کسان په کار وګمارل شي او د بې کارۍ په کچه کې به د پام وړ کموالی راشي. په بېلابېلو برخو کې د مستقیم او غیرمستقیمو رامنځته شویو کاري فرصتونو لنډیز په لاندې ګراف کې ښودل شوی دی.




شکل ۲ : د کانال جوړولو او ګټه اخیستنې په وخت کې رامنځته شوي مستقیم او غیرمستقیم کاري فرصتونه

**۴ـ لاسته راوړنې**

د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې یوه لویه برخه القايي اغېزمنInduced Impact دي. په لاندې ګراف کې د القايي اغېزمنو مجموعي ګراف رسم شوی دی. له ګراف څخه په واضح توګه ښکاري چې د القايي اغېزمنو شمېر د لغمان له نفوس څخه زیات دی، د دې مفهوم دا دی چې د شاهي کانال د پروژې په تطبیق سره به د لغمان پر ولس سربېره د نورو ولایتونو وګړو ته هم په پراخه کچه کاري فرصتونه برابر شي.




شکل ۳ : د شاهي د جوړولو او ګټه اخیستنې پر مهال القايي اغېزمن

**۵ـ پایله او سپارښتنې**

دا مطالعه، د شاهي کانال په اړه د لغمان د سینډیزې حوزې ریاست د معلوماتو او ارقامو او همدارنګه د کرنې، اوبه لګولو او مالدارۍ ریاست د اټکلیز کرنیز پلان پربنسټ ترسره شوې ده. د څېړنې پایلې په ګوته کوي چې د شاهي کانال پروژه به د جوړونې پرمهال چې شاوخوا ۹۰۰ ورځې به دوام وکړي، په ورځنې ډول یو لوی شمېر ماهرو او غیرماهرو کاریګرو ته په مستقیم او غیرمستقیم ډول کاري فرصتونه رامنځته کړي، چې د ټولنې د بېلابېلو طبقو مسلکي او غیرمسلکي خلک به ترې ګټه پورته کړي. د ساختماني کاري فرصتونو ترڅنګ، د شاهي کانال څخه د ګټه اخیستنې پرمهال به بېلابېل کرنیز پیداوار، باغونه او ځنګلونه به په زرګونه هکتاره ځمکه کې وکرل شي، چې له یوې خوا به یې محصولات د وګړو غذایي مصئونیت تضمین کړي او د ټولنې اړتیاوې به یې تر یوې کچې پوره کړي وې او له بلې خوا به د بزګرانو یوه لویه سلنه په مستقیم ډول په دایمي توګه په کار وګمارل شي او تر څنګ به یې په مارکېټ او نورو برخو کې په غیرمستقیم ډول کاري فرصتونو ته زمینه برابره شي او خلک به ورڅخه برخمن شي. په ټوله کې د شاهي کانال د پروژې پلې کول د بېکارۍ په کمولو او همدارنګه د خلکو په ورځني عاید او اقتصاد باندې په لوړه کچه مثبت اغېز لرلی شي. د هېواد په کچه مسئولینو او سکتوري ادارو ته وړاندیز لرم، چې د اوبو د مدیریت په برخه او څېړنو باندې پانګونه وکړي او په یاده برخه کې څېړونکو ته د څېړنو اسانتیاوې برابرې کړي. همدارنګه د اقتصادي ثبات او د ځان بساینې په لور د تګ لپاره د اوبو پر مدیریت پانګونه وکړي او د هېواد شاړو ځمکو ته د کرنې په موخه د اوبه رسولو لارې چارې وګوري، تر څو زموږ ګران هېواد افغانستان له یو مصرفي هېواد څخه په تولیدي هېواد باندې بدل شي.

# گفتگو با محترم مولوی عزت الله عارف رییس عمومی قوای بشری

گفتگوکننده: ابوبکر آرین

ریاست عمومی قوای بشری؛ یکی از ریاست‌های مهم و کلیدی وزارت کار و امور اجتماعی بوده که به هدف طرح و اجرای فرآیند جذب، استخدام و انتخاب کارکنان مناسب، تحلیل نیازهای بازار کار و تعیین برنامه‌ها و پالیسی‌های مرتبط به مزد، مزایا و پاداش‌ها به منظور جذب و نگه‌داشتن استعدادها در تشکیل معینیت امور کار ایجاد و فعالیت می‌نماید.
جهت معلومات بیش‌تر در پیوند به کارکردها و فعالیت‌های این‌ریاست؛ پرسش‌هایی را با محترم مولوی عزت الله عارف؛ رییس عمومی قوای بشری در میان گذاشتیم که از نشانی این مجله با شما خواننده‌گان گرامی همرسانی می‌گردد.

**پرسش نخست:**

جناب رییس صاحب! همان‌گونه که در بالا یادآوری نمودیم، ریاست عمومی قوای بشری یکی از ریاست‌های کلیدی امارت اسلامی افغانستان می‌باشد که جهت معلومات بیش‌تر از فعالیت‌ها و کارکردهای مهم و اساسی این ریاست می‌خواهیم از شما بشنویم؟

**پاسخ نخست:**

به نام و یاد خداوند بزرگ! وظایف بارز و برجستهٔ ریاست عمومی قوای بشری؛ مطالعهٔ بازارکار، توزیع جوازکار و انسجام امور مراکز خدمات کاریابی در مطابقت به قانون و اهداف استراتیژی وزارت کار و امور اجتماعی بوده و برنامه‌های ما بیش‌تر بر تشخیص نیازمندی و مراقبت از گردآوری معلومات در پیوند به بازار کار و انکشاف خدمات کاریابی استوار است.

این ریاست هم‌چنان در فراهم‌سازی زمینهٔ ایجاد و انسجام فعالیت‌های مراکز کاریابی خصوصی نیز جایگاه اساسی داشته و برای شرکت‌های خصوصی کاریابی داخلی جواز کار توزیع می‌نماید و با آنان تفاهم‌نامه امضا می‌نماید تا بتوانیم اشخاص را از طریق این شرکت‌ها نیز به کار معرفی نماییم و سطح بی‌کاری کاهش یابد که در این راستا آمار گردآوری شده از معرفی و گماشته شدن کارجویان از سوی این شرکت‌ها را نیز ثبت نموده و برای کارگران روز مزد نیز مشوره‌های لازم داده می‌شود.

**پرسش۲:**

چگونه نیازهای مهارتی مورد نیاز بازار کار در کشور را شناسایی می‌کنید و از چه روش‌هایی برای تحلیل این نیازها استفاده می‌کنید؟

**پاسخ۲:**

داشتن آمار و معلومات در پیوند به وضعیت بازار کار؛ یکی از مهم‌ترین و ارزنده‌ترین عنصر در راستای طرح برنامه‌ها و پالیسی‌ها در جوامع بشری پنداشته می‌شود. موجودیت آمار و معلومات دقیق در پیوند به بازار کار و دیگر بخش‌ها که در رشد و بهبود وضعیت اقتصادی و اجتماعی کشور جایگاه برازنده دارند، حیاتی پنداشته می‌شوند و با در نظرداشت

اهمیت موضوع، ریاست مطالعهٔ بازار کار در سال ۱۳۹۰ در ساختار ریاست عمومی قوای بشری ایجاد گردیده تا آمار و معلومات بازار کار را از بخش‌های گوناگون به سطح کشور گردآوری نموده، پس از تحلیل و ارزیابی یافته‌های به دست آمده، آن را در یک گزارش تحلیلی نشر می‌نماییم تا باشد تمامی نهادهای امارتی و غیر امارتی درک مسؤلیت نموده، خدمات مؤثر را در راستای رشد اقتصادی و دیگر عواملی که باعث بهبود وضعیت زنده‌گی شهروندان کشور می‌گردد انجام دهند. هم‌چنان طرح پالیسی و استراتیژی سالم در عرصهٔ بازار کار، مستلزم ارقام و اطلاعات دقیق بازار کار بوده و پالیسی سازان کشور را قادر خواهد ساخت تا با استفاده از نتایج به دست آمده در عرصه‌های گوناگون اقتصادی، اجتماعی و صنعتی، برنامه‌ها، کارشیوه‌ها و پالیسی‌های سودمند را طرح و منصهٔ اجرا بگذارند.

ریاست مطالعهٔ بازار کار با در نظرداشت پلان منظور شدهٔ خویش در سال ۱٤۰۳ آمار و معلومات در پیوند به وضعیت شغلی جوانان، تشبثات کوچک، میانی و بزرگ در رابطه به پنج حرفهٔ پر درآمد و وضعیت مراکز آموزش‌های فنی و حرفه‌ای را ذریعه چهار قطعه پرسش‌نامه از مراکز ۲۷ ولایت کشور گردآوری نموده است که کار روی تحلیل و ارزیابی آن به شدت جریان دارد که نتایج به دست آمده از آن بعداً در اختیار پالیسی سازان کشور قرار خواهند گرفت.

آمریت تحلیل سروی‌ها، آمار و اطلاعات گردآوری شده از طریق پرسش‌نامه با استفاده از نرم افزارهای آماری SPSS و اکسل، تجزیه و تحلیل می‌نماید. برای تحلیل نتایج از روش‌های آماری توصیفی از قبیل دریافت فریکونسی ترسیم گراف‌ها، محاسبهٔ میانگین و دریافت انحراف معیاری استفاده میگردد.

**پرسش۳:**

آیا روند کارگماری و توزیع جواز کار کارکنان امارتی را ثبت دیتابس (بانک معلومات) می‌نمایید، اگر بلی! آیا دیتابس شما با دیگر نهادهای امارتی همرسانی (Share) می‌باشد؟

**پاسخ۳:**

بلی در سیستم توزیع جواز کار اتباع داخلی، تمامی معلومات متقاضیان جواز کار که در ادارات امارتی و غیر امارتی گماشته می‌شوند، ثبت می‌گردد و در سیستم الکترونیکی سازی آرشیف این‌ریاست اسناد و سوابق سال‌های گذشته را ثبت و اسکن می‌نماید؛ ولی دیتابیس یادشده با دیگر ادارات امارتی وصل نمی باشد.

**پرسش۴:**

چه تعداد جواز کار برای اتباع خارجی سالانه توزیع می‌نمایید و چه شرایط و معیارها را در توزیع جواز کار در نظر دارید؟

**پاسخ٤:**

از حمل سال ۱۴۰۳ تا بیستم ماه دلو سال ١٤٠٣ به تعداد (۳۰۰۰) قطعه جواز کار برای اتباع خارجی توزیع گردیده‌است که معیار آن، قانون کار، مقررهٔ استخدام اتباع خارجی و طرزالعمل روند توزیع جواز کار اتباع خارجی می‌باشد.

**پرسش۵:**

در صورتی‌که اتباع خارجی جواز کار نگیرند، چه مسوولیتی به دوش آن‌ها می‌باشد؟

**پاسخ٥:**

در صورتی‌که اتباع خارجی در شرکت‌ها و مؤسسات خصوصی بدون داشتن جواز کار مصروف کار باشند، حین بررسی از سوی تیم مراقبت سیار این ریاست و تیم‌های بررسی ریاست محترم تفتیش و رهنمایی کار شناسایی شده و به نهادهای عدلی و قضایی معرفی خواهند شد و با شرکت‌ها و مؤسسات متخلف برخورد قانونی صورت می‌گیرد.

**پرسش٦:**

پس از آمدن امارت اسلامی، چه سهولت‌هایی در توزیع جواز کار اتباع داخلی و خارجی به میان آمده‌است؟

**پاسخ٦:**

به هدف آوردن سهولت برای مراجعین اتباع داخلی، یک نماینده‌گی نمبر تشخیصیه (TIN) در ریاست عمومی قوای بشری ایجاد گردیده و سهولت‌های بی‌شماری به آنان فراهم گردیده‌است. پیش از این، طی مراحل اخذ جواز کار، دو روز وقت را در بر می‌گرفت که با ایجاد سیستم توزیع جواز کار اتباع داخلی، اکنون این روند به یک ساعت کاهش یافته است و با سیستم الکترونیکی سازی آرشیف ثبت اسناد موجوده، آرشیف از سال های ١٣٥٣ تا اکنون به دسترس می باشد.

**پرسش۷:**

قرار معلومات؛ تیم مراقبتی شما در میدان هوایی کابل نیز فعالیت می‌نماید، تیم یادشده چه سهولت‌هایی را برای شهروندان خارجی به بار آورده است؟

**پاسخ۷:**

تیم مراقبت سیار مؤظف در میدان هوایی بین‌المللی کابل، برای آن عده از شهروندان خارجی که آشنایی کامل در پیوند به روند توزیع جواز کار اتباع خارجی ندارند را رهنمایی نموده و مشخصات آن‌ها را به ریاست مربوطه شریک می‌سازند تا از هدر رفتن وقت در زمینهٔ گرفتن جواز کار جلوگیری شده و عواید آن به گونهٔ درست و بهتر به حساب حکومت واریز گردد.

**پرسش۸:**

بیش‌ترینه درخواست کننده‌گان جواز کار از کدام کشورها می‌باشند؟

**پاسخ۸:**

بیش‌ترینه درخواست کننده‌گان (متقاضیان جواز کار) شهروندان خارجی از کشورهای گوناگون مانند چین، پاکستان، ایران، کشورهای اروپایی و غیره می‌باشند.

**تشکر از شما جهت پاسخ به پرسش‌ها**



# له روژې میاشتې څنګه ګټه واخلو؟

ژباړن: محمدآصف احمدزی
سرچینه: آن اسلام.نټ وېب پاڼه

د دې لپاره چې د یو چا ژوند هدفمند او بامعنا واوسي؛ نو اړینه ده چې هغه یوه موخه ولري او د هغې موخې د تر لاسه کولو لپاره باید زیار او هڅه وکړي، خو که څوک له هدف ټاکلو پرته بریالیتوب ته رسېدل غواړي؛ نو دا به له خپل ژوند سره د لوبو کولو په معنا وي. په دې هکله ټول خلک که مسلمان یا کافر وي یو شان دي، خو د یو مسلمان لپاره دا مسئله بیا ډېر ارزښت لري، ځکه هغه په پای کې د الله تعالی رضایت او په اخرت کې جنت ته د داخلېدو هیله لري.

له دې سربېره الله متعال انسان ته موقع ورکوي، ترڅو هغه ته وروګرځي او سمه لاره غوره کړي. د یو مسلمان لپاره الله تعالی بیا یوه ښه موقع د روژې مبارکه میاشت ورکړې ده، ترڅو په کې د خیر ښېګڼې کړنې ډېرې او خپل ګناهونه کم کړي، په دې سره به نوموړی بنده جنت ته د ننوتو لاره ومومي. روژه هغه میاشت ده، چې الله تعالی پکې د خپل بنده د هرې نېکۍ اجر څو برابره ورکوي. همدا راز دغه میاشت پر شیطان د غلبې لپاره یوه ښه موقع ده.

ګرانه لوستونکیه! د روژې په میاشت کې د خپل ځان لپاره ځینې موخې وټاکه او د هغو په سرته رسولو کې هم هڅه وکړه، ترڅو بریالیتوب ترلاسه کړې. دغه کار به د الله تعالی د رضا او له دوزخ څخه ستا د ژغورنې لامل شي.

د دې لپاره چې خپلو لوړو موخو ته ورسېږو، نو لازمه ده چې لاندې مهمو موضوعاتو ته ډېره پاملرنه وکړو.

**روژه**

د روژې په میاشت کې خپله یوه موخه دا وګرځوئ چې له ټولو هغو شیانو به ډډه کوئ، کوم چې الله تعالی منع کړي دي؛ نو باید نه چاته فرېب ورکړې، نه دروغ ووایې، نه غیبت وکړې او نه هم په ناحقه د چا مال وخورې. دا خو معلومه ده چې په روژه کې له دغو درېیو شیانو ډډه کېږي: خوراک، څښاک او جماع؛ نو له دې سره باید خپل غوږونه، سترګې، ژبه، لاسونه، پښې او د بدن نور ټول غړي له ګناه کولو څخه وساتې. همدا راز خپل زړه له دنیوي فکرونو او بې ارزښته موضوعاتو څخه لرې وساته، د الله تعالی له یاد پرته نور یې له هر څه پاک کړه.

**تهجد ته پاڅېدل**

په دې روژه کې ځان په دې هم عادت کړه، چې هره شپه د تهجد لپاره پاڅې او حداقل اته رکعته د تهجد لمونځ وکړې، خو په یاد ولره، چې هېڅ شي ته اجازه مه ورکوه، چې د دې مهم او ارزښتمن کار مخنیوی دې وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تاسو ته په

قیام اللیل (تهجد) کولو توصیه کوم، ځکه له تاسو مخکې د نېکونو لاره وه، په دې سره بنده الله تعالی ته ورنږدې کېږي، ګناهونه يې بښل کېږي، د ګناهونو مخنيوی کوي او له جسم نه د ببماريو د ختمېدو لامل يې ګرځي.

**د قرآن کريم تلاوت**

د روژې په مياشت کې يو ځل د قرآن تلاوت ته لېوالتيا بايد له تاسره وي، حد اقل د ورځې يوه سپاره بايد تلاوت شي. که چېرته دې د قرآن کريم تلاوت سم نه وي زده؛ نو ناهيلي نه ده په کار. د دې لپاره ځينې لارې چارې شته، ترڅو له الله تعالی نه وربانديې اجر ترلاسه کړې، يو له هغو څخه داده چې د هغه چا تلاوت ته غوږ ونيول شي، چې ښه تلاوت کوي يا د ټيپ، راډيو او نورو رسنيو له لارې د قرآن کريم تلاوت ته غوږ ونيول شي، ځکه د قرآن کريم تلاوت ته غوږ ايښودل هم د اجر او ثواب د ترلاسه کولو يوه لاره ده.

**له خپلوانو سره اړيکه**

د روژې په اوږدو کې اړينه ده، چې له خپلې کورنۍ او خپلوانو سره په اړيکه کې واوسې، په ځانګړي ډول له علماوو او مجتهدينو سره کېنې او د هغوی درسي حلقو کې ګډون وکړې.

همداراز هڅه وکړه، چې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه هغه حديث په ياد ولره، چې روايت يې داسې کړی دی: يو کس رسول الله ته وويل، چې اې د الله پيغمبره! زه خپل خپلوان لرم او غواړم چې له هغو سره خپلوي وکړم، خو هغوی يې راسره نه کوي. زه له هغوی سره ښه چلېږم، خو هغوی را سره برعکس بد چلند کوي. زه له هغوی سره خوږ يم، خو هغوی له ماسره ښه نه کوي. رسول الله ورته وويل: دا چې ته څنګه وايې، همداسې وي؛ نو تا په حقيقت کې د هغوی پر مخونو سره ايره شيندلې ده. تا سره به الله تعالی خپله مرسته جاري ساتي او تر هغه به تا پر هغوی بريالي کوي، ترڅو چې ته په دې لاره پابند واوسې. (مسلم روايت کړی)

**صدقه ورکول**

د روژې په مياشت کې هره ورځ د الله د رضا په خاطر صدقه ورکوه، د صدقې او نورو نېکو اعمالو بدله په روژه کې څو برابره ورکول کېږي. دا د روژې د مياشتې نېکمرغي او لوی نعمت دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د صدقې او خيرات په ورکولو سره د دوزخ له اوره ځانونه وژغورئ. که چېرته دا درته سخته وي، چې هره ورځ صدقه ورکړې، کېدای شي د څو ورځو، مثلاً د لسو ورځو صدقه راټوله او بيا يې ورکړې.

**د الله تعالی ياد او ذکر**

خپله ژبه تل د الله تعالی په ياد او ذکر لمده وساته، ذکر تر ټولو ښه او اسانه عبارت دی، خو د هغه چا لپاره چې الله تعالی ورته اسانه او توفيق ورکړی وي. د هودير صحابي کيسه، کوم چې د اسلام د لومړيو کې په يوه سخته جګړه کې يې مقاومت کړی و، د ذکر او د الله تعالی د ياد تل ساتلو په اړه يوه ښه بېلګه ده. په يوه روايت کې راغلي دي، چې کله نوموړی صحابي په يو سفر کولو مامور او روان شو؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم دا له ياده ووته، چې هغه ته د لارې توښه او امکانات ورکړي، خو د الله ياد او ذکر په نوموړي سفر کې له هغه څخه د ډوډۍ خوړلو ضرورت د څو ورځو لپاره له ياده ووېست، تر هغه چې جبرائيل عليه السلام راښکته شو او رسول الله صلی الله عليه وسلم يې له پېښې خبر کړ. هماغه وو چې د خدای پيغمبر يو بل صحابي مکلف کړ، ترڅو هدير ته ضروري توښه ورولېږي.

**د دعا له وسلې کار اخيستل**

حقيقي مسلمان بايد د دعا وسله تل او په هر حالت کې وکاروي، په ځانګړي ډول د روژې په مبارکه مياشت کې خو بايد ډېره دعا وشي، ځکه په دې وخت کې بنده الله تعالی ته ډېر نږدې کېږي او الله تعالی د خپل بنده دعا ښه قبلوي؛ نو پر دې بنسټ بايد په هر وخت کې الله تعالی ته دعا وشي او دا هم بايد په ياده ولرو، چې که د زړه له تله او له اخلاصه ډکه دعا وشي؛ نو هغه به هرومرو قبلېږي. الله تعالی په خپل کتاب کې فرمايلي دي: ((او کله چې پوښتنه وکړي (اې محمده!) له تا څخه بندګان زما (له لرېوالي او نږدېوالي) زما، نو بېشکه زه نږدې يم (دوی ته په علم او اجابت سره) قبلوم زه سوال د غوښتونکي په هغه وخت کې چې وبولي ما؛ نو ښايي چې دوی هم ومني حکم زما (طاعت) او ټينګ دې اوسي په ايمان په ما باندې، ښايي چې دوی په سمه لار محکم پاتې شي)). البقرة سورت: ۱۸٦ ايت.

**پايله**

د روژې اصلي موخه د انسان په روحاني، اخلاقي او ټولنيزو اړخونو کې بدلون رامنځته کول دي. په دې مياشت کې روژه نيول انسان ته يو داسې فرصت ورکوي، چې د خپل نفس کنټرول وکړي او د داخلي پاکوالي لپاره کار وکړي. همدارنګه روژه د انسان اراده پياوړې کوي او هغه ته فرصت ورکوي چې له نېکو کارونو سره د الله رضايت ترلاسه کړي.

په ټوليزه توګه، د روژې د نيولو موخه نه يوازې فزيکي ګټې ترلاسه کول دي، بلکې دا يو معنوي او روحاني تمرين دی چې انسان ته د الله سبحانه وتعالی د احکامو په تعقيب کې مرسته کوي، د ځان د اصلاح او د خپلو اخلاقي معيارونو په لوړولو کې هم اغېزمن واقع کېږي.





# د ماشوم د شخصیت په وده کې د کورنۍ رول

استاد شرف الدین عظیمي

کورنۍ (Family) لومړنی ټولنیز بنسټ دی، چې ډېری انسانان په کې دنیا ته راځي او له دې دنیا سترګې پټوي. کورنۍ د ټولنې یو وړوکی واحد دی، چې د نسل د ډېرولو او د ماشوم له روزنې سره – سره ډېرې نورې دندې هم لکه د اقتصادي بنسټونو لوړوالی، د کلتور او ارزښتونو ساتل، وده او داسې نورمسؤلیتونه هم لري؛ نو له همدې امله کورنۍ د وګړي او ټولنې او نورو بنسټونو تر منځ د ټولنیزو ارزښتونو د لېږد دنده سرته رسوي، دا چې کورنۍ او ټولنه ټینګې اړیکې سره لري، نو د وګړي دریځ هم تر ډېره بریده د ټولنې په دریځ پورې اړه لري. د انسان په ژوند کې یو لوی لامل، چې له انسان سره په ټولنیزتوب کې مرسته کولای شي، هغه په کورنۍ کې د نوموړي د ماشومتوب پړاو او تجربې دي. د کورنۍ فضا له مینې، محبت، ځان تېربدنې، صمیمیت او په ورته وخت کې له رخې، دښمنۍ، کینې، کرکې او تاوتریخوالي ډکه وي. ماشومان ټولنیزې عاطفي او احساسات له مور، پلار، خویندو او وروڼو سره تجربه او زده کوي، د کورنۍ غړي یو پر بل پورې تړلي وي او هر راز فردي ستونزه او ربړه کولای شي چې د کورنۍ نورو غړو هم په مستقیم او غیر مستقیم ډول تر اغېزې لاندې راولي او نورو غړو ته هم ستونزې پیدا کړي. همدا ډول کورنۍ له هغې اغېزې څخه، چې لري یې، کله ناکله د رواني اختلال په رغولو کې هم مرسته کولای شي. کورنۍ یو تر ټولو اړین بنسټ دی، چې ټولنه تغذیه کوي او د ټولنې روغتیا او ناروغتیا هم تر ډېره بریده د کورنۍ په روغتیا او ناروغتیا پورې اړه لري. کورنۍ د ماشوم د روزنې لومړنی ښوونځی دی او بل هېڅ یو لامل هم تر دې حده اغېزمن نه شي بریښېدی. ماشوم خپل لومړني او بنسټیز درسونه له کورنۍ څخه زده کوي، د کورنۍ ډولونه، ضوابط او قوانین ټول په کورنۍ کې په ماشوم اغېزه کوي، له کورنۍ څخه پرته د متعادل ژوند هیله ناشونې ده او د یوه سالم فردي او ټولنیز ژوند لپاره خو د کورنۍ نه شتون یوه نا ممکنه خبره ده، کورنۍ د یوه ماشوم په نېکمرغۍ کې بې سارې ونډه لري، د کلتور، تمدن، ادب او دودونو په لېږد کې کورنۍ د خورا اهمیت لرونکې ده، د ټولنې، تمدن، او کلتور د بقا او دوام لپاره له کورنۍ پرته بله ښه وسیله نه شته، کورنۍ ته که له یوه اړخه وکتل شي نو یو وړوکی واحد دی، خو که د اهمیت له پلوه ورته وکتل شي نو یوه ډېره مهمه او لویه وسیله ده، چې د یوې لوی ټولنې بنسټ ږدي. د کورنۍ قدر اندازه هله ښه څرګندېږي چې څوک خپله کورنۍ د مرګ، بېلېدو، جګړې او یا هم طلاق له امله له لاسه ورکړي.

کورنۍ یو ټولنیز او طبیعي نظام دی، چې خپل ځانګړي خصوصیتونه لري دا نظام د قانونو او اصولو یوه ټولګه جوړوي او په خپلو غړو یې پلې کوي او هر غړي ته خپله برخه ورکوي، کورنۍ ډېر پېچلي صورتونه لري او د خپلو ستونزو لپاره بېلابېلې لارې او طریقې کاروي، په دغه ډول یو نظام کې وګړي د علاقو، نږدېوالي، عاطفي کړنې تر ډېره بریده په یو اتفاق وي، کېدای شي په یوه کورنۍ کې اړیکې، علاقې او غوښتنې یوه له بله سره ښې نه وي، خو په هر حالت کې اړیکې وي او یوازې په ښه او بد کې یې توپیر لیدل کېږي او دا نسبتي او ذاتي اړیکې د ژوند تر پایه له انسانه سره وي، کېدای شي د کورنۍ غړي لوی شي او خپله کورنۍ جوړه کړي، خو د لومړۍ کورنۍ غړیتوب د عمر تر پایه ورسره پاتې کېږي. د کورنۍ ځواک تر هغې کچې دی چې که کوم غړی له غرونو هم پناه وي بیا به یې هم کورنۍ په یاد وي، ان که یو څوک د لنډ مهال لپاره بېل شي یا ان مړ شي بیا هم په خپلې پاتې کورنۍ پورې تړاو لري او هرڅه یې پاتې کورنۍ ته پاتې کېږي. د بېلګې په ډول که په یوه کورنۍ کې پلار مړ شي او بیا یو بل کس کورنۍ ته راځي او د لومړني پلار دنده او مسؤلیتونه په غاړه اخلي له هڅو سره سره بیا هم نه شي کولای بریالی شي، ځکه چې د لومړي کس عاطفي او شخصیتي پیوندونه له‌منځه نه شي وړلی او ځای یې نه شي نیولی. یو سوداګریز سازمان کولای شي، چې خپل یو کارکوونکی یا د کارکوونکو یوه ډله، چې خوښ یې نه وي او یا یې له کارونو رضایت ونه لري له دندې ګوښه او له سازمان څخه لرې کړي یا هم خپلو هغو ارتباطي کسانو سره چې وړاندې یې سوداګریزې اړیکې ورسره درلودې نور اړیکې پرې کړي، خو یوه کورنۍ داسې نه شي کولای، که دا کار وهم کړي، اړیکې یې نه پرې کېږي او ځینې انساني عاطفي او احساسات شته چې بېرته خپل غړي په کورنیو پورې تړي ان که ستونزې هم سره ولري او له ولېرې هم ومري. بله دا چې یو سازمان دا هم کولای شي چې د خپلو پخوانیو غړو پر ځای نوي غړي او کسان وټاکي، خو په کورنۍ کې دغه موضوع هم ناشونې ده، ځکه، چې د کورنۍ غړي په کورنۍ کې له ودې سره – سره خپل ځانګړی هویت هم ترلاسه کوي، له کورنۍ سره تړاو لري او خپل ډله ییز هویت هم ساتي، دغه غړي په ګوښه کې ژوند نه کوي، بلکې په یو بل پورې تړلي او هغه هم یوازې په دې موخه نه، چې د خوړو، سرپناه او پیسو ستونزې او اړتیاوې یې هوارې شي، بلکې ددې لپاره، چې ځینو نورو نا ملموسو اړتیاوو ته هم لکه مینه، محبت، همکارې، زړه خوږې، ټولنیزیتوب او داسې نوروو ته هم ضرورت لري.

یو ستر لامل چې د انسان په کړووړو کې ښه اغېزه کوي، هغه کورنۍ ده، کورنۍ لومړنۍ او با دوامه چاپېریال دی، چې د ماشوم په شخصیت پوره اغېز لري، لکه وړاندې مو هم، چې وویل د ماشوم ډېرې ځانګړنې میراثي وي او په کورنۍ کې مور او پلار بیا هم دنده لري، چې د خپلو ماشومانو ارثي وړتیاوو ته زمینه برابره کړي او دا څرګنده ده، چې د مور او پلار اغېز یوازې په ارثي برخه کې نه محدودېږي، بلکې وروسته له پیدایښته هم پوره اغېز او ونډه لري. د کورنۍ اقتصاد، افکار، ګروهې، آداب او دودونه، ایډیالونه، هېلې او د روزنې طریقې او سطحه د ماشومانو په کړنو، پوره اغېزه لري، کورنۍ له ټولنیز، اقتصادي، روزنیز، دیني، هنري او ورته نورو برخو کې لکه، جوړښت، اړیکې او غړي یو له بله توپیر سره لري او یو ډول نه دي. نو له دې امله د کورنیو اغېز په وګړو کې هم توپیر لري، کورنۍ کې د وګړو تر منځ اړیکې داسې وي، چې د ماشومانو د بدني او رواني اړتیاوو په پوره کولو کې اسانتیاوې رامنځ

کړي او ښه روزنه ورکړي، په کومه کورنۍ کې، چې د ماشوم اړتیاوو ته پاملرنه کېږي کره وړه یې نظر هغې کورنۍ ته، چې د ماشوم اړتیاوو ته یې پاملرنه نه کېږي توپیر لري.


کورنۍ په کلتوري، ټولنیزه، اخلاقي او عاطفي وده کې ډېره لویه او مهمه اغېزه لري. د ماشوم په روزنه او وده کې د کورنۍ له ونډې څخه انکار نه شو کولای، که څه هم ماشوم په ټولنه له همځولو او همدارنګه په ښوونځي کې له خپلو ښوونکو اغېزمنېږي خو له دې هرڅه سره – سره ډېره ونډه بیا هم د کورنۍ په غاړه ده او ماشوم ډېر له کورنۍ څخه وده او روزنه مومي.

کورنۍ د یوې ښځې او سړي له جوړې څخه، چې هوښیار، پوه، فکري او بدني بلوغ ته هم رسېدلي په پوره هوډ او اراده جوړېږي او دغه جوړه د ټولنې مهم بنسټ دی. د کورنۍ نظام په کورنۍ کې دننه د مور، پلار او اولادونو په اړیکو پورې اړه لري څومره، چې دغه اړیکې د غړو ترمنځ خواږې، سالمې او ښې وي په هماغه اندازه د ټوموړې کورنۍ ژوند خوښ او هوسا وي او ښه ماشومان په کې روزل کېدای شي، دغه اړیکې بیا په مستقیم ډول د ماشومانو په وده او روزنه اغېز کوي. بې له شکه چې ماشومان او تنکي زلمیان خپلې لومړنۍ تجربې او زده کړې له خپلې کورنۍ څخه لاسته راوړي او هوښیارې میندې او پلرونه باید په دې خبره پوه وي، چې ماشوم خپلې ډېرې کړنې او زده کړې له کورنۍ څخه په پېښو (تقلید) زده کوي او د شخصیت لومړنۍ ستنه یې له کورنۍ څخه د پېښو له لارې اېښودل کېږي او ورو ورو خپل شخصیت جوړوي. له کورنۍ سره د ماشوم اړیکې د ماشوم په ټولنیزتوب کې خورا ونډه لري او ماشوم په کورنۍ کې د وګړو شخصیتونه څېړي، که یې پلار جدي و، هر کار یې په بېړه سرته تر سره کاوه او تریخ وه او مور یې ټل فرمان ورکوونکې، ګوښه او کمزورې ولیده؛ نو دا انګېري، چې د ټولنې ټول نارینه او ښځې همدا شان دي.نو له همدې امله ویلی شو، چې د ماشوم شخصیت له مور، پلار، ښوونکو، همځولو او لویانو سره په ټولنه، ښوونځي او کورنۍ کې د ماشوم له لومړنیو لیدنو کتنو څخه اغېزمنېږي او جوړښت مومي.

هغه ماشومان، چې په کورنۍ کې له مور او پلار سره په اړیکو خوښ نه وي، ښوونځي ته د ناکامۍ او ناخوښۍ له غوټو (عقدو) سره ننوځي او دا احساس کوي، چې ګني ښوونکي مو هم د مور او پلار په څېر دي، نو له همدې امله ګوښه توب، رویتوب او ان عصبي کېږي او په ورته وخت کې هغه ماشومان، چې غوښتنو ته یې په کورنۍ کې جدي پاملرنه شوې وي، له مور او پلار سره یې ښه اړیکې درلودلي وي، له مور او پلار څخه یې کومه ترخه خبره نه وي اورېدلې، رټل شوي نه وي، تهدید شوي نه وي او په حقوقو یې تېری نه وي شوی او له صمیمیت او خوند څخه ډک ژوند یې تېر کړی وي په ډېره هوسا او ارامه روحیه ښوونځي ته ورننوځي او بیا هم د ورته غوښتنو او کړنو انځور کاږي او په دغه کار کې بریالیتوب ته هم رسي، له ملګرو او ټولګیوالو سره په ښوونځي کې له ښو اړیکو خوښ وي او خوند اخلي. ماشومان د خپلو عاطفي او ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولوتېږي وي. له همدې کبله، چې کله ماشوم له مور او پلار سره له ښو اړیکو وروسته ښوونځي ته ننوځي له نورو مخامخ کېدونکو وګړو سره هم ښه او سالم اړیکې جوړوي او دغه کار ښوونځي ته د نویو ننوتونکو ماشومانو په شخصیت خورا حساسه او ټاکونکې اغېزه کوي، ځکه چې د کورنۍ او ټولنې هوکړې (تعهدونه) د ماشوم د زده کړې په پرمختګ کې په مستقیم ډول اغېز ښندي او له ښوونکو سره د ماشوم په ښوونه او روزنه کې مرسته کولای شي. هغه ماشومان، چې له مور، پلار، خویندو، ورونو او نورو لویانو سره د اړیکو ناکامي او ناخوښي تجربې لري، کله چې ښوونځي ته دننه کېږي خپلو ښوونکو او مسؤلینو ته د شك او تردید په سترګه ګوري او تل د بهانو په تمه وي، په دغه حالت کې که ښوونکی، لارښود، ناظم، د ښوونځي مدیر او نور اړوند مسؤلین زده کوونکي ماشوم ته له مهر او مینې پرته وګوري، د ماشومانو هیله مندو اداګانو ته پاملرنه ونه کړي او په ښه سترګه ورته ونه ګوري او ښې خبرې ورسره ونه کړي د ماشومانو هغو انځورونو او ذهنیتونو ته چې له ناکامو تجروبو څخه یې لا له وړاندې درلودل یو د ذبات لامل ګرځي او د ټولنیز کړکیچ او د ناروغه شخصیت د ودې لامل هم ګرځېدلی شي؛ نو له همدې امله اړینه ده، چې ښوونکي او مسوول چارواکي دغه واقعیت ته پوره پاملرنه وکړي او په خپلو دغو عاطفي او منطقي کړنو د خپل ماشوم اعتماد لاسته راوړي، څنګه چې وړاندې یاده شوه د کومو ماشومانو، چې عاطفي او کلامي اړتیاوې په کورنۍ کې پوره نه شي په ښوونځي کې له یوې وړوکې او معمولي ستونزې سره په مخامخ کېدو د ښوونځي چاپېریال یو ناخوښي او ستونزمن چاپېریال انګېري او په ټولنه کې په هوسا توګه ژوند نه شي کولای او له همدې امله هوښیار، وړ او با استعداده ماشومان له بېلابېلو تحصیلي، رواني او فکري ستونزو سره په ټولنه او ښوونځي کې مخامخ کېږي. کله، چې ماشومان په ناهیلۍ ټولګي او ښوونکي ته ګوري ډېره هڅه کوي، چې له ټولګي څخه د تېښتې لاره وګوري او که په ټولګي کې پاتې هم شي ذهن یې دې ته تیار نه وي، چې څه جذب کړي او د حافظې له ستونزې سره هم مخامخ کېږي، دا ځکه چې دا ډول ماشومان تل په وېره او ډار کې خپلې شپې او ورځې تېروي او کله، چې ماشوم په وېره او ډار کې وي د دې پر ځای، چې د ذهني وړتیا، نوښت او زده کړې د اړتیا په اړه فکر وکړي، د خپل رواني تعادل د ساتلو په اړه فکر کوي او ټوله هڅه یې دا وي، چې خپلو ستونزو او شرایطو ته بدلون ورکړي.

همدارنګه که د ماشوم کوم ښوونکی نه خوښېږي د هغه درس یې هم نه خوښېږي او د دغسې مینې او کرکې بنسټ په کورنۍ کې اېښودل کېږي. په ټوله کې ویلی شو، چې د کورنۍ عاطفي او منطقي روغتیا ټینګښت او ځواك او له ټولنې څخه پوهه او خبرتیا د ماشوم د شخصیت په وده کې د ونډې ضمانت کوي او دوه زړه توب، تضادونه، کړلېچونه او ټولنیز او رواني اختلالونه هم د کورنۍ په روغتیا پورې اړه لري، په بله مانا ویلی شو، چې کورنۍ د ماشوم د ټولنیز توب زمینه برابروي او د استعدادونو او وړتیاوو څرګندویه یې همدا کورنۍ ده، چې دی ژوند په کې تېروي؛ نو که د یوې سالمې ټولنې غوښتونکي واوسو، چې په هغې کې د بېلابېلو قشرونو وګړي مصوون وي؛ نو اړینه ده چې د ټولنې دومره اړین او ارزښتمند بنسټ یاني کورنۍ ته جدي پاملرنه وشي. بې له شکه، چې د کورنۍ ژوبل او متزلزل والی ددې لامل ګرځي، چې ټولنه هم ژوبله او متزلزله کړي او کله، چې په یوه ټولنه دا حالت حاکم شي نو د ماشوم د انحراف لامل ګرځي او ټولنه له یوې لویې ستونزې سره مخامخ کوي. که په بنسټیز ډول د ټولنې د کړلېچونو د مخنیوي لاره چاره لټوو؛ نو کورنۍ ته باید پاملرنه وکړو. نن که د جرمونو کچه ورځ په ورځ پورته روانه ده، که د شخصیت او کړو وړو اختلالونه ډېر شوي، که د دنیا نیم ناروغان رواني ناروغۍ لري، که نن په نړۍ کې له هرو څلورو ودونو څخه یو په طلاق پای مومي؛ نو د دې ټولو ستونزو جرړې، د چاپېریال اغېزې او لاملونه دي. په ځانګړې توګه، کله چې په کورنۍ کې سرغړونې، په ښوونځي کې تاوتریخوالی، ځان وژنې، له کور څخه تېښتې، په نشه یي توکو روږدي کېدل وینو او څېړو، اصلي سرچینه یې له کورنۍ څخه پیل کېږي او کله، چې ماشوم له دې ډول پېښو څخه کورنۍ ته پناه وړي په کورنۍ کې له عواطفو او زړه خوږۍ پرته منفي غبرګونونو سره مخ کېږي او د ناهیلۍ کندې ته لاهو کېږي.

پورتنیو دلایلو ته په کتو سره سلګونه داسې نور لاملونه هم شته چې د کورنۍ اهمیت او ارزښت په کې څرګندېږي او ثابتوي، چې کورنۍ د روزنې لومړنی ځای دی او د ماشوم د شخصیت په سالمه وده کې بنسټیزه ونډه لري، له همدې اړخه کورنۍ د یوه ځانګړې اهمیت لرونکې ده او په هره اندازه چې کورنۍ پورې اړوندو موضوګانو باندې څېړنه ، تجزیه، تحلیل او تفسیرکېږي، په روغتیا او سالمتیا کې یې لیکنې او خبرې کېږي، دانسانانو او ټولنو د روغتیا ضمانت کوي او همدومره ګټه ورته رسولی شي.



# زیبایی و پاکی شهرما؛ نشانه هویت ما است

میترا کاظمی

من اگر معمار این شهر می‌بودم برای این شهر طرح جدیدی در سر داشتم. آن‌را از بنیاد تغییر می‌دادم دوست داشتم، بلند منزل‌های که در آن مردم مصروف خرید و فروش لباس‌های گران قیمت هستند جای آن، این همه را مملو از کتاب می‌کردم و در همه شهر پوسترها جهت تشویق مردم برای فرهنگ مطالعه نصب می‌کردم چون در این شهر از خورد تا بزرگ از دانش‌آموز تا دانشجو و از خاص تا عام و آن‌هایی‌که معلم هستند و آن‌هایی‌که از او می‌آموزند همه نیاز مبرم به مطالعهٔ کتاب‌دارند و من در این کتابخانه‌ها برای مردم کتاب ساینس بیولوژی نخواهم گذاشت چون مردم ما امروز همه و همه به فرهنگ شهر نشینی نیاز دارند اذهان ما مطابق به لباس‌های پر زرق و برق که می‌پوشیم نیست.

کابل پایتخت و مرکز افغانستان است و پایتخت یک کشور نماد از فرهنگ و مدنیت در آن کشور می‌باشد بیایید سری بزنیم به مکان‌های مهم کابل و فرهنگ مردم را مورد مطالعه قرار دهیم آیا این همه داشته‌های کنونی سزاوار مرکز یک کشور است؛ کشوری‌که بیش‌ترین مردم آن مسلمان است و اسلام بهترین فرهنگ و ثقافت را در این خطه از خود به‌جا گذاشته است. اسلام از خوردن و آشامیدن و طرز برخورد با دیگران و چگونگی زنده‌گی در شهر همه را بیان کرده است از کوچک‌ترین اعمال تا بزرگترین‌اش از خرید و فروش و نظافت شهر.

امروز متأسفانه با علرغم این‌که کارمندان شاروالی به طور بیست و چهار ساعته مصروف پاک کاری شهر هستند اما با آن‌هم شهر از هر گوشه فریاد بلند می‌کند خصوصاً در هوای گرم و سوزان تابستان که آلوده‌گی به حد آخر خود می‌رسد و بیش‌تر شفاخانه‌ها مملو از مریض‌های حساسیت فصلی و بیماری‌های ساری می‌باشد چون شهر به حد اخیر آلوده است و در این تقیصر بزرگ همهٔ ما و شما شهروندان شامل هستیم.

با آن‌که در هر گوشهٔ شهر کثافت دانی‌های خورد و بزرگ قرار داده شده است اما آن‌ها خالی هستند به جایش روی کوچه و پس کوچه‌ها مملو از کثافات هست و این وضعیت تا زمانی خوب نمی‌شود تا همه احساس مسؤلیت نموده و در پاکی شهر خود کوشا باشیم، اگر در پاک‌کاری سهم نمی‌گیریم حداقل کثافات را به جای مخصوص آن بیندازیم تا باشد شهر پاک و نظیف داشته باشیم چون پاکی و ناپاکی شهر نشانهٔ هویت شهروندان آن است.

و اگر به جانب دیگر نظر کنیم با غذاهای فراوان روی سرک بر خواهیم خورد چون شهر آلوده با کثافات است و این در حالی می‌باشد که شهر کابل خود از آلوده‌گی و کثافات مملو بوده پس این غذاها نیز ملوث با انواع از امراض شده‌اند و مکانی خوبی برای رشد و نموی مکروب‌ها هستند؛ چون بیش‌تر از باشنده‌های شهر اقتصاد خوبی ندارند و مردم مجبور به سیر کردن خود و اطفال شان توسط همین غذاها هستند. و این غذاها پیش از این‌که غذا برای شهروندان باشد مکان خوب برای مگس‌ها و انواع حشرات است. از این گذشته اگر سری به رستورانت‌ها بزنیم، تنها ظاهر و نمای خوبی برای جلب مشتری دارند اما داخل آشپزخانه‌های‌شان مثل وضیعت عمومی شهر می‌باشد از همین‌رو با نوش‌جان کردن این غذاها در بیرون از منزل به انواع امراض مبتلا می‌شویم. و این همه نشانهٔ ضعف فرهنگی ما است. وقتی داخل هر شهر و کشور جدید می‌شویم اولاً پاکی و زیبایی شهر را در ذهن خود ارزیابی می‌کنیم و نظر به همین مشخصات هویت مردم آن‌جا برای ما هویدا می‌گردد.

این سرک‌ها، پل‌ها، پارک‌ها، منازل زیبا و مفشن که دولت برای زیبایی شهر بنا می‌کند برای استفاده من و توست پس از آن‌ها چون خانه و کاشانهٔ خویش حفاظت کنیم. و هیچ گاه فراموش نکنیم که اگر من و تو هر کدام مسؤلیت ما را در مقابل شهر و کشور خود به درستی انجام ندهیم این شهر پس از مدتی به مخروبه مبدل خواهد شد. مخروبه که برای دیگران پیام رسان بی‌فرهنگی و دوری از مدنیت و ترقیِ ما خواهد بود. بیاییم آن‌چه را در مکتب و پوهنتون و کتاب‌ها آموخته ایم اولاً بالای خود بعد بالای دیگران عملی کنیم. تا باشد شهر عاری از زباله‌ها و حشرات مضره داشته باشیم. و این همه میراث ما برای نسل‌های آیندهٔ ما خواهد بود پس میراث خوب و رعنا برای شان تقدیم کنیم و در سرسبزی خانه، کوچه و شهر ما توجه خاص داشته باشیم چون نهال شانی و مراقبت آن، گوشه‌ای از شهر را قشنگ می‌سازد و از سویی هم هوای ناپاک را تصفیه نموده و هوای دور از مکروب‌ها برای ما تحویل می‌دهد، و از طرفی در زدودن هوای گرم ما را یاری می‌کند.

**د حلالې نفقې د ترلاسه کولو په موخه پر هڅه او کوښښ ټینګار:**

قال الله تبارک و تعالی:
فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ (۷) وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ (۸)
ژباړه: کله چې ته فارغ شې، نو (په عبادت کې) ځان ستړی کوه او خاص خپل رب ته رغبت او زاری کوه. ماخذ: د الشرح سورة ۷ او ۸ آیتونه
دا آیت مؤمنانو ته سپارښتنه کوي، کله چې له یوه کار څخه خلاص شوئ، په بل کار پیل وکړئ او له هڅې او کوښښ څخه لاس مه اخلئ. دا سپارښتنه په ژوند کې دوامداره فعالیت کولو ته اشاره کوي. .
۲. د معیشت د تأمین لپاره کار او هڅه
وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى (۳۹) وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى (۴۰)
ژباړه: او دا چې د انسان لپاره نشته مګر هغه څه چې ده (یې) کوښښ کړی دی او دا چې بېشکه د ده کوښښ به ژر ولیدل شي. ماخذ: د النجم سورة ۳۹ او ۴۰ آیتونه
دا آیت د حلالې نفقې د ترلاسه کولو په موخه په هڅه او کوښښ ټینګار کوي، د دې ترڅنګ هغه پایله چې د هڅې او کوښښ په ترڅ کې لاسته راځي، د دنیوي اړتیاوو د تأمین لپاره حتمي او ضروري دي او دا هغه ټکی دی، چې موږ لا ډېرې هڅې او کوښښ ته هڅوي.







# KAAR WA IJTEMA

Quarterly Journal of
The Ministry of Labor and Social Affairs
28th:Volume
2025 Winter